د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبـوعاتـو رياست




# اباډي
میاشتنی


۱۴ گـــنه
درېیم کال
رجب المرجب- ۱۴۴٦ هـق


- پاشــدان بند؛ په نږدې راتلونکي کې به يې چارې بشپړې شي
- د افغــان - ټرانس اوســپني پټلــۍ پروژې اقتصادي ارزښت ته کتنه
- Speech by the Deputy Prime Minister for Economic Affairs at the Inauguration Ceremony of Bakht Blanket Manufacturing Factory

# ABAADI


@FDPM_AFG
dpmea.gov.af
@FDPM_AFG


"

اســـلامي امارت تر فتحې وروســـته د اقتصاد محوره خارجي سياست اعلان وکړ. له اقتصاد محوره سياست څخه يې هدف دا دی، چې افغانســـتان ته د امنيت او ثبات له راوګرځېدو وروسته هېواد په سيمه کې د اقتصادي همکاريو، تجارت او ترانزيټ په مرکز بدل شي. دا نه يوازې د افغانستان؛ بلکې د ټولې سيمې په ګټه دی. همدا راز اسلامي امارت هڅه کړې چې سيمې او لرې پرتو هېوادونو ته د افغانستان د صادراتو زمينه برابره کړې او غوارې افغانستان ته بهرنۍ پانګونه جلب کړي.

الحاج ملا عبد الغني برادر اخوند

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبوعاتو رياست

بسم الله الرحمن الرحيم

# ابادي

میاشتنی

۱۴ گڼه

دریم کال
رجب المرجب - ۱۴۴۶ هـ ق

| | |
|---|---|
| د امتیاز خاوند: | د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت |
| کتنپلاوی: | مولوي عبدالله عزام، مولوي ذبیح الله ناصر، امان الله حنیفي او فضل ولي شیراني |
| مسوول مدیر: | مولوي خالق‌داد تقي |
| مرستیال: | احمدشاه راشد |
| ډیزاینر: | عطاءالرحمن سعید |
| فوتوژورنالیست: | مسیح الله عطایي |
| نېټه: | رجب المرجب - ۱۴۴۶هـ.ق |


مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل

0202107500

media@dpmea.gov.af

dpmea.gov.af

د مجلې له مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مآخذ مجاز است.

# لړلیک


سـرلـیـکـنـه ۱

غـــونـــډې ۲ - ۵

د پـــروژو پـــرانیـــســتـــې ۶ - ۱۱

لیدنې کتنې او کنفرانسونه ۱۲- ۱۹

د اقتصادي موضوعاتو اړوند مقالې ۲۰ - ۴۹

English Section 1 - 7



# سرلیکنه

کوچني کاروبارونه یا تشبثات د هېوادونو د اقتصاد د ملا تیر بلل کېږي، لامل یې دادی چې په زیاترو هېوادونو کې کوچني یا متوسط کاروبارونه د کاري فرصتونو په برابرولو کې مرسته کوي. که چیرې د کوچنیو کاروبارونو یا تشبثاتو اقتصادي پرمختیا چټکه وي، نو د نوښتونو، کارموندنې، بې وزلۍ کمولو او دې ورته نورو برخو کې مهم رول لري. په همدې خاطر ویل کېږي چې د دوامداره پرمختګ له پاره باید له کوچنیو کاروبارونو څخه ملاتړ وشي، په ځانګړي ډول هغه هېوادونه لکه افغانستان چې غواړي اقتصاد یې وغوړېږي. په کوچنیو کاروبارونو یا تشبثاتو کې له صنعتي تولید څخه نیولې بیا تر خدماتو، راکړې ورکړې او ان کرنیزو فعالیتونو پورې شامل دي. که دا سکټور پرمختګ وکړي، نو ورسره به د افغانستان اقتصاد وده وکړي، خلکو ته به کار پیدا او د بې وزلۍ کچه به راټیټه شي.

اسلامي امارت د کوچنیو کاروبارونو د تشویق او تمویل په موخه د وړو تمویلونو موسسو د څارنې او تنظیم له پاره مقرره جوړه کړه. د دې مقررې اصلي موخه د خلکو په ځانګړې توګه د بې وزلو د اقتصادي هوساینې لپاره د وړو مالي تمویلونو سکټور لپاره د ځواب ویوونکي، شفافه او پایداره چاپېریال (ایکو سیستم) رامنځته کول، ساتل او څارل دي. په همدې موخه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۲۳مه نېټه د افغانستان بانک له لوري «د وړو تمویلونو ملي کنفرانس: فرصتونه او ننګونې» تر سرلیک لاندې د پانګونې د تشویق او د کارونو د ایجاد په اړه جوړ شوي ملي کنفرانس کې د وینا پر مهال وویل، د وړو تمویلونو سکټور څخه ګټه اخیستونکي عام او بې وزله خلک، بزګران او د وړو کاروبارونو څښتنان دي او د دوی لاسنیوی د اسلامي امارت او نړیوالې ټولنې ګډ هدف دی. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت په هېواد کې د فقر او بې‌کارۍ کچې کمول خپل مسوولیت او لومړیتوب ګڼي، پر همدې اساس د وړو کاروبارونو د ملاتړ او د نویو کاري فرصتونو د ایجاد په موخه د افغانستان بانک له لوري د وړو تمویلونو موسسو د څارنې او تنظیم لپاره مقرره جوړه شوې چې په تېرو شلو کلونو کې دغه کار نه و ترسره شوی.

اسلامي امارت په دې پوهېږي چې د افغانستان په څېر هېوادونو کې د وړو کاروبارونو رامنځته کول زیات مهم او د پلي کېدو وړ دي، نو پکار ده چې د خپلو اړتیاوو پوره کولو له پاره کوچني او متوسط کاروبارونه پیل کړي. د افغانستان اقتصاد له جغرافیایي پلوه یو څه متفاوت دی او له همدې امله د دوه ګوني اقتصاد لرونکي هېواد نوم ورکولای شوو. هغه په دې مانا چې یو ښاري اقتصاد او بل کلیوالي اقتصاد دی. خو دا دواړه بیا په بشپړ ډول یو له بل سره توپیر لري. په ښاري اقتصاد کې د ژوند څه نا څه اسانتیاوې شته، خو په کلیوالي اقتصاد کې بیا د ژوند لومړنۍ اسانتیاوې هم په مشکل سره پیدا کېږي. نو دا د حکومت مسوولیت دی چې کلیوالي اقتصاد ته پام واړوي او د دې له پاره پکار داده چې په افغانستان کې د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو د رامنځته کېدو له پاره زمینه برابره شي.


اسلامي امارت د کوچنیو کارو بارونو رامنځته کولو په موخه ګام پورته کړی دی. د افغانستان بانک له لوري د وړو تمویلونو موسسو د تنظیم او څارنې مقررې په جوړولو سره د دې کاروبارونو د رامنځته کوونکو تمویل ته لار هواره شوې ده. له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو له لارې غواړي له یوه لوري په کلیو او بانډو کې د میشتو هېوادوالو له پاره د کار او د ژوند د اسانتیاوو زمینه برابره کړي او له بل لوري یې هڅه داده چې د دې کاروبارونو پر مټ سیمه‌ییز او په ټوله کې ملي اقتصاد پیاوړی او غښتلی کړي.



د اقتصادي او ملي تدارکاتو کمېسیونونو
او پانګونې بین الوزارتي کمېټې

# غونډې

# د اقتصادي کمېسیون په نوبتي غونډه کې پر یوشمېر موضوعاتو بحث وشو




د اقتصادي کمېسیون پــه نوبتي غونډه کې چــې د ریاســتالوزراء اقتصادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ په مرمرینــه ماڼۍ کې جوړه شــوې وه، له اجنډا سره سم پر ټاکل شــوو موضوعاتو بحث وشو.

دې غونــډې تــه د ډې پــي ورلــډ شرکت د شرطپاڼې پــه تړاو متحده عــربي اماراتو ته د افغانستان اسلامي امارت د پلاوي کاري راپور، د کاســا زر پروژې په اړه د افغانستان برېښنا شرکت د ټاکل شــوي پلاوي راپور، د افغان – ټرانــس پــروژې په تــړاو د ټولګټــو وزارت د اوسپنې پټلۍ معینیت راپور، د مناګي برېښنا بند په تړاو د افغانستان برېښنا شرکت راپور، د جــواز الســیر او لایســنس الکترونیکي کولو طرحه او یوشــمېر نور اقتصــادي موضوعات وړاندې شول.

له هراړخیز بحث وروســته د افغان – ټرانس پروژې په تــړاو د ټولګټو وزارت د اوســپنې پټلۍ معینیت راپــور تایید او اړوندو امارتي وزارتونــو او ادارو ته د لازمو کړنو ترسره کولو سپارښتنه وشوه.

د یادو نــورو موضوعاتو په اړه هــم له مفصل بحث وروسته لازم تصامیم ونیول شول.



# ملي تدارکاتو کمېسیون
## د پنځو میلیاردو افغانیو په ارزښت
# یوشمېر پروژې منظورې کړې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ، ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا پنځو میلیاردو افغانیو په ارزښت د ۲۷ پروژو قراردادونه منظور او د اتو هغو تعدیل کړل. د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډې ته چې د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۲۶مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، له اجنډا سره سم ۴۷ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې، چې له جملې یې د ۲۷ پروژو قراردادونه منظور، د ۸ تعدیل، د څلورو لغوه او د اتو پروژو د قراردادونو د قیمتونو په اړه ټاکل شویو کمېټو ته دنده وسپارل شوه، څو له ګټونکو شرکتونو سره بیاځلي مذاکرات ترسره او خپل راپور د ملي تدارکاتو کمېسیون مشرتابه ته وړاندې کړي. په منظور شوو او تعدیل شوو پروژو کې د غزني ولایت د سلطان بند بیارغونه، په کابل ښار کې د تهیه مسکن دوهم نمبر بلاکونه، د لوګر او کندهار ولایتونو د استیناف محکمو تعمیرونو جوړول، د کابل ښار یوشمېر داخلي سړکونه، په مختلفو ولایتونو کې د اړتیا وړ بربېښنایي وسایل او یوشمېر نورې پروژې شاملې دي چې د اسلامي امارت له لوري تمویلېږي.



# طرح تولید برق آفتابی در ولایات مختلف
## و چند پروژۀ اقتصادی دیگر مورد بحث قرار گرفت

جلسۀ نوبتی کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی بتاریخ ۱۳م قوس ۱۴۰۳ خورشیدی در قصر مرمرین برگزار گردید.

طبق اجندا به جلسه از سوی سکتور خصوصی طرح‌های تولید برق آفتابی در ولایات کاپیسا، هرات و کابل، نصب بتری‌ها برای ذخیره برق در ولایت قندهار، ساخت لابراتوارها جهت کنترول کیفیت مواد غذایی در ده بندر مهم کشور و ایجاد قوریه تجارتی درختان مثمر و باغ‌های پسته در ولایت هرات، غرض بحث ارایه گردید.

پس از بحث تفصیلی در جلسه به کمیته های جداگانه وظیفه سپرده شد تا با شرکت های ارایه دهنده این طرح‌ها بحث تخنیکی و اقتصادی نموده و گزارش‌های خود را در وقت تعیین شده به کمیته سرمایه‌گذاری بین الوزارتی ارایه نمایند.



# د پروژو
# پرانیستې

## د ریاست‌الـــوزراء اقتصـــادي مرستيـــال
# د بخت کمپل جوړولو فابریکه
## پــرانیــسته

د ریاســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتيال محـــترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۲۷مه نېټه د کابل ښار په پلچرخي صنعتي پـــارک کې د بخـــت کمپل جوړولـــو فابریکه پرانیســـتل شـــوه. په دغو مراســـمو کـــې د صنعت او سوداګرۍ سرپرســـت وزير محترم نورالدين عزيزي او د خصوصي سکټور استازو هم ګډون کړی وو.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په همدې مناسبت جوړو شوو مراســـمو ته د خپلو خبرو پر مهال وويل، په هېـــواد کې د سرتاسري امنيت په ټينګېدو او د فســـاد کچې په ټيټېدو سره اوسمهال د هر ډول لويو، متوسطو او کوچنيو پانګونو لپاره ښه زمينه مساعده شوې ده. د محترم ملا صاحب په خبره، اســـلامي امارت د وارداتو د تعويض د اغېزناکو سیاستونو په پلي کولو سره د داخلي صنايعـــو ملاتړ ته دوام ورکوي چـــې دا د هېواد د ملي اقتصاد پـــه پياوړتيا کې مهم رول لوبـــوي. محترم ملا صاحب زياته کـــړه، د کورنيو صنايعو د ملاتړ په موخه د بخت کمپل جوړولو فابريکې ته د افغانســـتان د کرنې پرمختيـــا صندوق له لوري د مرابحې اســـلامي تمويل قرارداد له مخې د ســـل ميليونو افغانيو په ارزښت مهم ماشينونه اخيستل شوي څو د پانګونې د لګښتونو فشار ورباندې کم شي. په دغه فابريکه کې د هېواد له خامو موادو (وړيو او پنبې) څخه استفاده کېږي، چې دا به د مالدارۍ او کرنې ســـکټور د پياوړتيـــا ترڅنګ د کاري فرصتونونو په زياتولو کې هم مرســـته وکړي. د رياست الوزراء اقتصادي مرســـتيال وويل، اسلامي امارت هڅه کوي چې د پانګونې کچې په زياتېدو سره پر بهرنيو



وارداتو تکیه راکمه او په کور دننه هېوادوالو ته د کار زمینه برابره کړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دې غونډې پر مهال پر ټولو سوداګرو او پانګوالو غږ وکړ چې د خپل هېواد د ابادۍ او اقتصادي ودې د پیاوړتیا په موخه دلته پانګونه وکړي، اسلامي امارت ټولې اسانتیاوې ورته برابرې کړې او بشپړ ملاتړ یې کوي. په پای کې محترم ملا صاحب د یادې فابریکې مسوولینو ته مبارکي وویله او هغوی ته یې سپارښتنه وکړه څو د منل شوو معیارونو په پام کې نیولو سره هېوادوالو ته باکیفیته تولیدات وړاندې کړي. د یادونې وړ ده چې د بخت کمپلو جوړولو په دغه فابریکه کې شاوخوا ۹۳۰ میلیون افغانۍ پانګونه شوې، چې په ورځني ډول د زر او په راتلونکي کې د پنځه زره کمپلو د تولید ظرفیت لري او اوسمهال یې شاوخوا ۹۰۰ کسانو ته د کار زمینه هم برابره کړې ده.

> اسلامي امارت هڅه کوي چې د پانګونې کچې په زیاتېدو سره پر بهرنیو وارداتو تکیه راکمه او په کور دننه هېوادوالو ته د کار زمینه برابره کړي.

### د بخت کمپل جوړولو فابریکې پرانیستغونډې ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم

## الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

## وینا

الحمدلله و کفی و سلام علی عباده الذین اصطفی، اما بعد!

فاعوذ بالله من الشیطان الرجیم،

بسم الله الرحمن الرحیم

قال الله تعالی: وَمِنْ أَصْوَافِهَا وَأَوْبَارِهَا وَأَشْعَارِهَا أَثَاثًا وَمَتَاعًا إِلَىٰ حِينٍ

د اسلامي امارت مسوولینو ، مجاهدینو، قدرمنو مشرانو، د رسنیو استازو او محترمو مېلمنو!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

الله تعالی دې وکړي چې له ښه صحت څخه به برخمن یاست.

خوښ یم، چې نن ورځ په افغانستان کې د داخلي تولیداتو او صنایعو د پراختیا په برخه کې د کمپلو د تولید د یوې داسې مهمې فابریکې د پرانیستې په مراسمو کې ګډون کوم، چې په بهرنیو تولیداتو زموږ د هېواد تکیه راکموي او د داخلي صنعت په پیاوړتیا کې مرسته کوي.

له هر څه وړاندې د فابریکې مسوولینو او ګرانو هېوادوالو ته د کمپلو د تولید د دغې مهمې فابریکې د فعالیت د پیل ډېره مبارکي وایم.

د کمپلو د تولید په یاده فابریکه کې د نهه سوه دېرش میلیونو افغانیو په مقدار پانګونه سوې ده، چې په لومړیو کې به یې په ورځ کې تولیدي ظرفیت زر واحده وي او شا او خوا نهه سوه کسانو ته به په‌کې مستقیماً د کار زمینه برابره سي.

د صنایعــو ځخه د ملاتړ په موخه دغــې فابریکې ته د افغانســـتان د کرنې پرمختیا صندوق یا اې ډې ایف له لوري د مرابحې اســـلامي تمویل قرارداد له مخې د سل میلیونو افغانیو په ارزښت اړوند ماشینونه اخیستل سوي دي؛ ترڅو د پانګونې د لګښتونو فشار ورباندې کم سي. تر ټولو مهمــه دا چې په یاده فابریکه کې به د هېواد له خامو موادو یعنې له وړیو او پنبې ځخه استفاده کېږي. چې دا به د مالدارۍ او کرنې ســکتور د پیاوړتیا سبب وګرځي او په غیر مستقیمه توګه به د کاري فرصتونو په زیاتولو کې مرسته وکړي.

د وارداتو د تعویض د اغېزناکو سیاســـتونو پلي کول او د داخـــلي صنایعو ملاتړ او وده د هېـــواد د ملي اقتصاد د پیاوړتیا او د اقتصادي خپلواکۍ پر لور ډېر مهم ګام دی؛ کله چې په هېواد کې د پانګونې کچه لوړېږي، ورسره په ځنګ کې د کار موندنې فرصتونه زیاتېږي، د بې وزلۍ او بې کارۍ کچه کمېږي، د ټولنیزو ستونزو مخه نیسي، پر بهرنیـــو وارداتو د هېواد تکیه راکموي، د اســـعارو د وتلو مخه نیسي او په ټولـــه کې د هېواد د اقتصادي ودې او پراختیا سبب ګرځي.

لله الحمد تاســـې ټول د دې ســـتر واقعیت شـــاهدان یاست، چې په وطن کې مو امن دی، اداري فساد ټیټې کچې ته راښکته سوی دی، د هر ډول لویو، متوسطو او کوچنیو پانګونو لپاره ښه زمینه مساعده ده. د تل په ځېر د هېواد په ټولو محترمو تجارانو او پانګوالو غږ کوم، چې په خپل ګران وطن کې پانګونه وکړئ، په دې سره به مو له یوې خوا خپل مشروع کاروبار پیل کړی وي او له بلې خوا به مو د هېواد د اقتصادي ودې سره اړینه مرسته کړې وي. په پای کې د نوموړې فابریکې له مســـوولینو ځخـــه مننه کوم، چې په هېواد کې یې دا مهمه پانګونه کړې ده او له دوی ځخه په ټینګار غواړم، چې د تولیداتو په برخه کې خپل ملي مســـوولیت په ســـمه توګه سرته ورسوي او هېوادوالو ته د منل سویو معیارونو په پام کې نیولو سره باکیفیته تولیدات وړاندې کړي، ترڅو له یوې خوا داخلي تقاضا ته ځـــواب وویل سي او له بلې خوا د دې زمینـــه او امکان هـــم مســـاعد سي، چې اضافي تولیدات بهرنیو هېوادونو ته هم صادر سي.

د افغانستان اسلامي امارت په استازیتوب د دې تولیدي فابریکې مسوولینو او نورو ټولو پانګوالو ته یو ځل بیا ډاډ ورکوم، چې اســـلامي امارت به د اړتیا پر مهال هر ډول لازمه همکاري درسره کوي. ان شاءالله

له توجه ځخه مو مننه

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

”

**د وارداتو د تعویض د اغېزناکو سیاســـتونو پلـــي کـــول او د داخلي صنایعو ملاتړ او وده د هېواد د ملي اقتصاد د پیاوړتیا او د اقتصادي خپلواکۍ پر لور ډېر مهم ګام دی.**

“



# پاشدان بند؛

## په نږدې راتلونکې کې به یې چارې بشپړې شي

د افغانستان اسلامي امارت د اوبو مهارولو او مدیریت لپاره قوي هوډ لري او دا کار یې له لومړیتوبونو څخه دی. په تېرو دوو لسیزو کې جګړې، سیاسي او اقتصادي بې ثباتي، اقلیمي بدلون او ورځ تر بلې زیاتېدونکی نفوس هغه لاملونه وو، چې افغانستان یې له سختو ټولنیزو او اقتصادي ستونزو سره مخ کړی دی، نو اوس اړتیا ده، چې د هېواد ځان بسیاینې، ټولنیز او اقتصادي پرمختګ لپاره د نورو برخو ترڅنګ اوبه مهار او په دې برخه کې پراخه پانګونه وشي. په دې برخه کې د افغانستان اسلامي امارت د تېرو څه باندې درېیو کلونو په بهیر کې ګوټلي ګامونه اوچت کړي دي.

په همدې موخه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په نهمه نېټه په هرات ولایت کې د پاشدان بند د پاتې چارو د پیل پرانیسته وشوه.

محترم ملا صاحب په همدې موخه جوړو شویو مراسمو ته وویل؛ د پاشدان بند د هرات ولایت لپاره یوه مهمه او حیاتي پروژه ده او اسلامي امارت یې په ټول توان بشپړولو ته ژمن دی او هڅه کوي چې په پوره اخلاص سره یې چارې په عمل کې بشپړې کړي.

اوس‌مهال د دغه بند چارې بشپړېدو ته نېږدې او د اوبو زېرمه کول یې پیل شوي دي. دغه بند به شاوخوا ۵۴ میلیونه مترمکعب اوبه ذخیره، ۱۳ زره هکټاره ځمکه به خړوبه او دوه مېګاواټه برېښنا به تولید کړي چې دا مهال سلګونو او له ګټې اخیستنې وروسته به زرګونو کسانو ته د دایمي کار زمینه برابره شي.

د یادونې وړ ده چې څه موده وړاندې په زابل کې د عمري بند ګټې اخستنې ته وسپارل شو.

## د منظور شوو پروژو په قراردادونو کې شاوخوا ۳ میلیارده افغانۍ سپما شوې

اســـلامي امارت د هېواد د بیارغونې په موخه هڅه کوي چې په مختلفو برخو کې بېلابېلې زېربنایي پروژې عملي کړي. په همدې موخه د ملي تدارکاتو کمېسیون په خپلو نوبتي غونډو کې د منظور شـــوو پروژو په قراردادونو کې شاوخوا ۳ میلیارده افغانۍ سپما کړې دي.
د یاد کمېسیون په جوړو شویو غونډو کې تر دې مهاله په مختلفو ناســـتو کې د شـــاوخوا ۸۵ میلیاردو افغانیو په ارزښت ۳۱۷ پروژې منظورې شوې دي چې د یو شمېر چارې یې بشپړې او د ځینو نورو عملاً جریان لري.
په منظور شویو پروژو کې چې شمېر یې ۳۱۷ ته رسېږي، د ښارونو اړوند زېربنا او خدماتو، کلیو پراختیا، ترانســـپورټ، روغتیا، برېښـــنا، اوبو مدیریـــت، کرنې، مخابراتو، د څښاک اوبو، رېل پټلۍ جوړولو او بیارغونې او نورو برخو کې پروژې شاملې دي.
په ملي تدارکاتو کمېســـیون کې د منظور شوو پروژو په تدارکاتي پروسو کې سرعت، روڼتیا او اقتصادیت رامنځته شوی. د ولایتونو متوازن انکشاف او د هېوادوالو اړتیاوو ته په کتو مهمو پـــروژو او همداراز د منظور شـــوو پروژو په تطبیق کې د کورنیو تولیداتو کارونې ته لومړیتوب ورکړل شوی دی.
یادې پروژې د هېواد د پلازمېنې کابل په ګډون په بېلابېلو ولایتونو کې پلې کېږي. د دې پروژو په بشـــپړېدو سره نه یوازې د هېواد پـــه بېلا بېلو برخو کې پرمختګونه رامنځته کېږي، بلکې ترڅنګ یې زرګونو کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه هم برابره شوې ده.





# ليدنې كتنې او

# **كنفرانسونه**



# د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د روسیې هېواد له یوشمېر پانګوالو سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان لمریز کال د عقرب میاشتې په ۲۷مه نېټه له یو شمېر روسي او افغان پانګوالو سره وکتل.

د دغه لیدنې پر مهال چې د کور او بهر جوړولو، صنعت او سوداګرۍ، ترانسپورټ او هوایي چلند وزارتونو سرپرست وزیرانو، د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ او عامې روغتیا وزارتونو مرستیالانو او د امارتي شرکتونو لوی ریاست مسوولینو هم حضور درلود، د زېربنا، صنعت، سوداګرۍ، ترانسپورټ، کرنې، رېل پټلۍ او روغتیا سکتورونو کې د روسي پانګوالو پر پانګونې، په دغه سکتورونو کې د شته فرصتونو او پر ګډې همکارۍ خبرې وشوې.

د لیدنې پرمهال د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په خپلو خبرو کې وویل چې افغانستان دا مهال په مختلفو سکتورونو کې د پانګونې له پاره زیات فرصتونه لري، کورني او بهرني پانګوال کولای شي په دغو سکتورونو کې پانګونه وکړي. محترم حاجي ملا صاحب زیاته کړه افغانستان د طبیعي سرچینو له پلوه بډایه هېواد دی او د پانګونې له پاره ښه فرصتونه لري. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په خبره، دوی تل له کورنیو او بهرنیو پانګوالو غوښتي چې افغانستان ته راشي او په بېلابېلو برخو کې پانګونه وکړي.

ورپسې روسي پانګوالو په افغانستان کې په بېلا بېلو سکتورونو په ځانګړي ډول صنعت، ترانسپورټ، رېل پټلۍ، روغتیا او نه کې پانګونې ته لېوالتیا وښوده او ویې ویل دوی غواړي له اسلامي امارت سره خپلې تجربې شریکې کړي.

په پای کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند روسي او افغان پانګوالو ته د اسلامي امارت له لوري د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ او له دوی څخه یې وغوښتل چې په افغانستان کې د مارکېټ ارزونې وروسته دې خپلې چارې په امن فضا کې پیل کړي.



# د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال
# د هند او بنګله‌دیش هېوادونو له یوشمېر علماوو سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۲۹مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د هند او بنګله‌دیش هېوادونو له یوشمېر علماوو سره وکتل.

د دغه لیدنې پر مهال د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، اسلامي امارت تل هڅه کړې چې د اسلام مبارک دین له ټولو خرافاتو څخه پاک او په صحیح شکل خپل ولس ته ورسوي، چې په همدې موخه یې مدارس تقویه کړي، د نویو علمي اداراتو پر رامنځته کولو یې کار کړی او په تعلیمي نصاب کې یې د پام وړ اصلاحات راوستلي دي.

محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت د دې ترڅنګ د خپل هېواد د اقتصادي وضعیت د ښه کولو په موخه هم مؤثرې هڅې پیل کړې دي، لویې اقتصادي پروژې پیل شوې، ګاونډیو، سیمې او نړۍ له هېوادونو سره سوداګري پراخه شوې، د صنعت په سکټور کې د پخوا په پرتله پرمختګ شوی او پر ځان متکي او له بهرنیو احتیاجاتو څخه خلاص اقتصاد ته یې زمینه برابره کړې ده.

د محترم ملا صاحب په خبره، د افغانستان د ملي شتمنۍ کنګل کېدل او اقتصادي بندیزونه هغه ستونزې دي چې د افغانستان اقتصادي وده یې ټکنۍ کړې ده. اسلامي امارت له نړۍ سره د اسلامي شریعت په رڼا کې د متقابلو ګټو پر بنسټ د ولاړو سیاسي او اقتصادي اړیکو غوښتنه کوي او پر خپلو پښو ولاړ افغانستان د سیمې او نړۍ په ګټه بولي.

د یادو هېوادونو علماوو په افغانستان کې د اسلامي نظام په حاکمیت سره خوښي څرګنده کړه او د اسلامي نظام د تقویې په موخه یې ورسره خپل نظرونه شریک کړل.



## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال

# د روسیې فدراسیون د ملي امنیت شورا له عمومي منشي سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د قوس میاشتې په پنځمه نېټه د روسیې فدراســیون د ملي امنیت شورا د عمومي منشي سرګي شویګو په مشرۍ له راغلي پلاوي سره د ارګ په چهارچنار ماڼۍ کې وکتل.

په دغه لیدنه کې د افغانستان اسلامي امارت د صنعت او ســوداګرۍ وزیر نورالدین عزیزي، د اقتصاد وزیر قاري دین محمد حنیف، د روســیې فدراسیون د لومړي وزیر مرســتیال، د افغانستان لپاره د روســیې فدراسیون د ولســمشر ځانګړي اســتازي ضمیر کابلوف او د دواړو هېوادونو یوشمېر نورو مسوولینو حضور درلود.

د دغه لیدنې پر مهال د سیاسي اړیکو، اقتصادي همکاریو، ســوداګرۍ او ترانزیــټ کچې پــر زیاتېــدو او همدا راز افغانستان کې د روسي پانګوالو پر پانګونې خبرې وشوې.

د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرســتیال د اسلامي امارت اقتصاد محوره بهرني سیاســت ته په اشارې سره وویل، افغانستان ته د امنیت او ثبات په راګرځېدو سره دغه هېواد په سیمه کې د اقتصادي همکاریو، سوداګرۍ او ترانزیټ په مرکز بدل شوی چې دا نه یوازې د افغانستان، بلکې د سیمې په ګټه دی.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، اســلامي امارت د هېــواد د امنیت او اقتصادي ودې په موخه په هېواد کې د نشــه‌يي توکو کښت بند کړی او ټولې هغه ډلې یې له منځه وړې دي، چې د افغانستان او سیمې امنیت او اقتصاد ته زیان رسوي.

محترم ملا صاحب وویل، افغانســتان د شمال - جنوب اقتصادي دهلیز په تقویت کې مؤثر رول لوبولو ته لېواله دی او په دې سره غواړي په سیمه کې اقتصادي اتصال عملي او له ســتونزو خــلاص شي. محترم ملا صاحب وویل: «موږ هڅه کوو د سیمې او لرې پرتو هېوادونو ته د افغانســتان صادراتو ته زمینه برابره کړو چې په دې برخه کې له روسیې څخه د همکارۍ غوښتنه کوو.»

د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرســتیال په خبره، د دواړو هېوادونو ترمنځ د رسمي اړیکو د کچې لوړوالی به په

اقتصادي برخــه کې د عملي پرمختګونو بې شــمېره فرصتونه رامنځته کړي او د افغانستان اسلامي امارت به د ســیمې د یو مسوول اقتصادي شریک په توګه مثبت رول ولري.

د روسیې فدراسیون د ملي امنیت شورا عمومي منشي سرګي شــویګو د خپلو خبرو پر مهال په افغانستان کې رامنځته شوو سیاسي، اقتصادي او امنیتي پرمختګونو ته په اشــارې سره وویل، اوسنی ســفر یې د روسیې د ولسمشر په هدایت ترسره شوی او روسیه له افغانستان سره د دوه اړخیزو اړیکو د همــکارۍ کچې زیاتېدو ته لېوالــه ده او په همدې موخه بــه په نږدې وخت کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ســیاسي او اقتصادي اړیکو د پراختیــا لپاره د اســلامي امــارت نوم د روســیې له تورلېست څخه لرې کړي.

روسي پــلاوي له افغان – ټرانس پروژې څخه د ملاتړ او په دغــه برخه کې د همکارۍ پــه څرګندولو سره زیاته کړه، روسیه د سېنټ پیټرزبورګ اقتصادي فورم پرمهال له افغانســتان سره د شوو اقتصادي همکاریو عملي پیل ته چمتو ده او همدا راز روسي پانګوال او دولتي شرکتونه په افغانستان کې د کانونو استخراج، ترانســپورټ او کرنې پــه برخو کې هــم پانګونې ته لېوالتیا لري.

د غونډې په پای کې دواړو لورو د سوداګرۍ، ترانزیټ او پانګونې برخو کې د پراخو همکاریو د رامنځته کولو په موخه د ګډ حکومتي کمېسیون پر رامنځته کولو ټینګار وکړ، چې تــر چتر لاندې به یې پــه مختلفو برخو کې نورې کمېټې هم فعالیت ولري.

## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال

## «د وړو تمویلونو ملي کنفرانس: فرصتونه او ننګونې»

## کې ګډون وکړ

د ریاســت‌الوزراء اقتصــادي مرســتیال محترم ملا عبدالغنــي برادر اخونــد د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د عقرب میاشــتې په ۲۳مه نېټه د افغانستان بانک له لــوري «د وړو تمویلونــو ملي کنفرانــس: فرصتونه او ننګونې» تر سرلیک لاندې د پانګونې د تشــویق او د کارونــو د ایجاد په اړه جوړ شــوي ملي کنفرانس کې ګډون وکړ. په دغه کنفرانس کې د کابینې یوشــمېر محترمو غړو، د ملګرو ملتونو، اروپايي ټولنې او نړیوال بانک استازو، د بېلابېلو هېوادونو سفیرانو، د نړیوالو او کورنیو ووسسو مسوولینو او یوشــمېر ملي پانګوالو او سوداګرو هم ګډون کړی و.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په همدې مناسبت جوړ شــوي کنفرانس ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، د وړو تمویلونو ســکټور څخه ګټه اخیستونکي عام او بې وزله خلک، بزګران او د وړو کاروبارونو څښتنان دي او د دوی لاسنیوی د اســلامي امارت او نړیوالې ټولنې ګډ هدف دی.

محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت په هېواد کې د فقر او بې‌کارۍ کچې کمول خپل مسوولیت او لومړیتوب ګڼي، چې پر همدې اساس د وړو کاروبارونو د ملاتــړ او د نویو کاري فرصتونــو د ایجاد په موخه د افغانستان بانک له لوري د وړو تمویلونو موسسو د

پاتې په راتلونکې مخ کې

ځارنې او تنظیم لپاره مقرره جوړه شوې چې په تېرو شلو کلونو کې دغه کار نه و ترسره شوی. د محترم ملا صاحب په خبره، په ټول هېواد کې د سرتاسري امنیت په تأمین او د شفافیت پر رامنځته کېدو سره اوس له بل هر وخت دې ته ښه زمینه برابره شوې چې د وړو تمویلونو سکټور له لارې له عامو خلکو سره مرستې ترسره او هغوی ته د کار زمینه برابره شي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند یاد کنفرانس ته د وینا پر مهال وویل، د وړو تمویلونو ملاتړ او ورسره ګډ کار کول ځکه ډېر مهم دي چې د عامو او بې وزلو خلکو له ژوند سره تړاو لري. د دغه سکټور له لارې له بزګرانو، عامو او بې وزلو خلکو سره مرسته ترسره او هغوی ته د کار زمینه برابرېږي چې له دې سره د بې وزلۍ، بې کارۍ او ټولنیزو ستونزو کچه راټیټېږي او په پایله کې د اقتصادي ودې او ملي اقتصاد د پیاوړتیا لامل کېږي.

په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دغه کنفرانس له لارې پر نړیوالې ټولنې، تمویلوونکو ادارو او همدارنګه شتمنو افغانانو غږ وکړ چې د وړو تمویلونو د ملاتړ په برخه کې د اسلامي امارت ترڅنګ ودرېږي. همدارنګه عام خلک، بزګران او د وړو کاروبارونو لرونکي هم کولی شي چې د وړو تمویلونو موسسو له جوړې شوې مقررې څخه ګټه پورته کړي او خپل کاروبار پیل او یا پراخه کړي.

د یادونې وړ ده چې د وړو تمویلونو موسسو په جوړه شوې مقرره کې د تمویل د ترلاسه کولو شرایط اسانه شوي څو د لېرې پرتو سیمو بې وزله خلک وکولای شي چې تمویل ترلاسه کړي او دا لړۍ به د هېواد ټولو سیمو ته وغځول شي.

# شورای عالی استندرد ۳۰ استندرد را تصویب نمود

به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء در جلسه دوم شورای عالی استندرد بتاریخ ۱۰ م قوس ۱۴۰۳ خورشیدی در قصر مرمرین برگذار شد، ۳۰ استندرد تصویب شد.

در این جلسه ملا فیض الله تمیم رئیس عمومی اداره استندرد ملی ، اعضای دایمی این شورا و نمایندگان سکتور خصوصی نیز حضور داشتند.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء در آغاز جلسه گفت، برای عرضه تولیدات و واردات معیاری برای هموطنان، ایجاد و تطبیق استندردها ضروری است.

محترم ملا صاحب افزود، با این کار از تولید و واردات اجناس بی کیفیت جلوگیری شده و اجناس معیاری در اختیار مردم قرار می گیرد.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء از تمامی ادارات به طور جدی خواست که استندردهای تصویب شده شورا را به صورت جدی تطبیق و تعقیب نمایند.

بعداً به جلسه دربخش های ساختمانی، خوراک و نوشیدنی، طبی، معادن، نفت، نساجی، محیط زیست و وسایل برقی ۳۰ استندرد غرض تصویب ارایه شد. استندردهای یاد شده پس از بحث همه جانبه تصویب شد.

## د ریاست‌الـوزراء اقتصادي مرستیـال د اوبو او انرژۍ وزارت علمي او تخنیکي سیمینار په پای غونډه کې ګډون وکړ

د ریاســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتیال محـــترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د قوس میاشتې په لومړۍ نېټه د اوبو او انرژۍ وزارت له لوري د دغه وزارت د سینډیزو حوزو رئیسانو، مشاورینو، د انرژۍ زونونو امرینو او انجنیرانو تـــه د وړتیا لوړونې په موخه د جوړ شوي علمي او تخنیکي سیمینار په پای غونډه کې ګډون وکړ.

محترم ملا صاحب دې غونډې ته د اوبو ارزښـــت ته په اشارې سره وویل، د اوبو اهمیت او اړتیا په اړه الله تعالی انسانانو ته لارښوونه کړې، چې د یوې اسلامي ټولنې په توګـــه موږ ته له اوبو سره د ســـم چلند په اړه اســـلامي مکلفیت راجع کوي او بلخوا له نړۍ سره د ســـیالۍ او اقتصادي ودې لپاره د اوبو غوره مدیریت په اوسني عصر کې اړین او ملي مسوولیت ګڼل کېږي.

محترم ملا صاحب زیاته کـــړه، اقلیمي بدلونونو، د اوبو ککړتیا کچې لوړېدو، د انسانانو د زیاتیدونکو اړتیاوو او د بـــې پروا مصرف لـــه امله نن ورځ په نـــړۍ کې د اوبو د کمښـــت ســـتونزه جدي بلل کېږي، چې دې چارې د هېوادونـــو ترمنـــځ خپل‌منځي او نړیوالې ســـیاسي او اقتصادي اړیکې اغېزمنې کړې دي.

د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي مرســـتیال د هېواد د اوبو سرچینـــو مدیریت او کنټرول ته په اشـــارې سره وویل، افغانســـتان د اوبو پراخې طبیعي سرچینې لري، خو له بده‌مرغه د مدیریت او ترې د سالمې استفادې په برخه کې یې مسلکي چلند نه دی شوی. د محترم ملا صاحب په خبره، اســـلامي امارت د خپل مسوولیت له مخې له هـــرې ممکنې لارې او امکاناتو په اســـتفادې د پیاوړې ارادې په درلـــودو سره د اوبو د غوره مدیریت لپاره هلې ځلې کوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اوبو مدیریت او ترې د سالمې اســـتفادې په برخه کې د ظرفیت لوړونې په موخه د لنډمهاله علمي او تخنیکي زده کړو ســـیمینار څخه فارغ شـــوو کســـانو ته مبارکي وویله او له هغوی څخـــه یې په ټینګار وغوښـــتل چـــې د دغه مهم ملي سکټور د ودې او مظلوم ملت د هوساینې لپاره په پوره اخلاص کار وکړي.

د یادونـــې وړ ده چې د غونډې پـــه پای کې محترم ملا صاحـــب د اوبو او انـــرژۍ وزارت له لـــوري د اوبو پروژو مدیریتي او معلوماتي سیستم، د اوبو د کیفیت معلوماتي سیســـتم، د اســـنادو مدیریت او تعقیب سیســـتم، د کارمندانو د هویت کارت مدیریتي سیستم او د زده کړې د ظرفیت لوړونې برنامې پرانیسته هم وکړه.

> ... له نړۍ سره د سیالۍ او اقتصادي ودې لپاره د اوبو غوره مدیریت په اوســـني عصر کـــې اړیـــن او ملي مســـوولیت ګڼل کېږي.



# اعلامیهٔ معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء ا.ا.ا

## در پیوند به گزارش اخیر بانک جهانی پیرامون وضعیت اقتصادی افغانستان!

گزارشی از وضعیت اقتصادی افغانستان از سوی بانک جهانی در اوایل دسامبر سال ۲۰۲۴ به نشر رسیده است. در این گزارش، بانک جهانی یافته‌های خود را در مورد وضعیت اقتصادی افغانستان به اشتراک گذاشته که بسیاری آن دور از واقعیت هستند. معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان، یافته های منتشر شده در رابطه به وضعیت اقتصادی کشور را رد می کند.

با وجودیکه در این گزارش، به رشد تولید ناخالص داخلی، ارزش افغانی در مقابل اسعار خارجی و ثبات سطح صادرات، رسیدن به هدف عواید داخلی، کاهش قیمت مواد غذایی و پیشرفت در بخش صنعت داخلی و سکتور بانکی اشاره شده؛ اما فیصدی رشد و پیشرفت های ارائه شده در این ساحات بیشتر و بلندتر از این است.

در این گزارش آمده که نرخ بیکاری بلند، آغاز نه شدن پروژه‌های زیربنایی و سطح سرمایه‌گذاری محدود است. اما با آمدن امارت اسلامی آغاز پروژه های گوناگون در سکتورهای مختلف مانند کانال ملی قوش تیپه، تاپی، ساخت شاهراه ها، بندها، راه آهن و تولید برق را می توان به عنوان نمونه یاد کرد. به همین ترتیب تنها در زمینه‌ی معادن مقیاس بزرگ حدود ۴۱۵ میلیارد افغانی سرمایه گذاری داخلی و خارجی و سرمایه گذاری های مشابه در بخش های دیگر نیز جذب شده است.

بهتر است جامعه جهانی با درک واقعی از حقایق به تعامل مثبت با افغانستان روی آورد، که در نتیجه آن، افغانستان در بخش اقتصادی پیشرفت‌های بیشتری خواهند داشت.

امارت اسلامی افغانستان
معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء



# مقالي

## د اقتصادي موضوعاتو اړوند :

## مروری بر سرمایه‌گذاری در بخش

# معادن

## مقیاس بزرگ در افغانستان

نویسنده: نجیب الله مایار

در ایــن مقاله، به بررســی برخی معــادن بزرگ افغانســتان و اهمیت اقتصــادی و اجتماعــی آن‌ها خواهیــم پرداخت که در ایــن اواخر کار اکتشاف و استخراج آن آغاز شده است.




## مقدمه

افغانستان کشوری اســـت که از نگاه داشتن معادن و ذخایر با کیفیت و عالی غنی بوده و شهرت بسزای دارد، که بعضی آنها کشـــف و دوره های سروی و اکتشافی را پشت سر گذاشته و آماده استخراج هستند و شماری هم اســـتخراج می شـــوند، ولی باز هم می توان گفت که تمامی معادن افغانستان به حالت دست نخورده باقی مانده. اگر این منابع و معادن به درستی استخراج و پروســـس گردد، گفته می توانیم که کشـــور ما به اوج مدارج عالی ترقی نایل خواهد شـــد و مردم ما دیگر نه تنهـــا از ضعف اقتصادی رنج نخواهد برد، بلکه در صدر ملت های قرار خواهد گرفت که از لحاظ رفاه و آسایش نظیری نـــدارد. معادن به عنوان یکـــی از منابع عمده اقتصادی این کشور شناخته می‌شوند. در این مقاله، به بررســـی برخی معادن بـــزرگ افغانســـتان و اهمیت اقتصادی و اجتماعی آن‌ها خواهیم پرداخت که در این اواخر کار اکتشاف و استخراج آن آغاز شده است.

## معادن افغانستان

آخرین تحقیقات زمین‌شناســـی نشان می‌دهد که در افغانستان ۸۹ منطقه سرشـــار از منابع معدنی وجود دارد و امکانات استفاده از آن نیز موجود است. بر بنیاد این تحقیق، تا اکنون بیشـــتر این معادن اســـتخراج نشده اند. براســـاس تحقیق زمین شناسی که در یک نشریه اقتصادی به نشر رسیده است، افغانستان یکی از غنی ترین کشورها در منابع طبیعی با مواد معدنی



چون لاجورد، طلا، زغال ســـنگ، آهن، مس، بیرایت، نفت، گاز طبیعی و سایر معادن به حساب می آید. بر اساس این تحقیق، افغانستان دارای ٦ معدن لاجورد و ٦ معدن طلا اســـت، مهم‌ترین معدن طلا در بدخشان موقعیـــت دارد و گفته میشـــود دامنـــه‌ی آن تا ولایت قندهار گسترش یافته است. معادن افغانستان را می توان به شرح زیر تقســـیم کرد: ســـنگ های قیمتی و نیمه قیمتـــی، فلزات نجیبه مانند طـــلا و نقره، پولی میتال ها مانند سرب و جست، نفت، گاز، زغال سنگ، باریت، نمک، یورانیم، آهن، مس، مواد ســـاختمانی و غیره وجود دارد. اما قسمی که قبلا گفته شد این ثروت ســـال ها و یا قرن ها به همین شکل زیر خاک پنهان بوده و هیچ کســـی برای بیرون کـــردن آن کار نکرده اســـت. معادن آهن نیز یکی از بزرگترین های معدنی کشور به حساب می آیند مانند، معدن حاجی گک که ذخایر آن به میلیاردها تن تخمین شده است و ۷ معدن دیگر در کوه بابا شناسایی شده است. بر اساس اطلاعات رسمی، افغانســـتان حدود ۱۲ معدن بزرگ مس دارد که مهم‌ترین آن مس عینک است. همچنان افغانستان در هرات حدود دو میلیون تن بیرایت دارد. در عین حال، معادن بزرگ زغال سنگ و ذخایر بزرگ نفت و گاز منابع عمده مواد سوختی کشور را تشکیل می دهند که موجودیت آن برای خودکفایی کشور مهم پنداشـــته می شـــود. با در نظرداشـــت ارزش معادن افغانستان، امارت اســـلامی بنا بر مسؤلیت خود برای استخراج این ثروت بزرگ اقدام کرده و با دقت کامل و شـــیوه مســـلکی به منظور اســـتخراج و اکتشاف این معادن با شرکت های داخلی و خارجی قرارداد هایی را امضاء کرده اســـت. برخی از این عنـــاصر در مقیاس بزرگ موجود بوده و تعدادی از ذخایر تا سطح معادن محاســـبه و ارزیابی شـــده که ارزش اقتصادی آن نیز چشمگیر است.



## آغاز کار اکتشاف و استخراج معادن با مقیاس بزرگ در کشور

همانطور که قبلاً گفتیم امارت اســـلامی افغانستان به هدف توسعه اقتصادی، کار اکتشاف و استخراج شـــماری از معادن بزرگ را در کشور آغاز کرده است. کار اکتشاف و اســـتخراج ۲۱ معدن با مقیاس بزرگ آغاز شده. این معادن به صورت خلاصه دراین جدول نگاشته شده اند:

| شماره | معادن با مقیاس بزرگ | سرمایه‌گذاری به دالر/ افغانی |
|---|---|---|
| ۱ | قرارداد استخراج پروژه بلاک اول آهن در ولسوالی غوریان ولایت هرات | ۲,۸۴۸,۱۲۰،۰۰۰ دالر |
| ۲ | قرارداد استخراج پروژه بلاک دوم آهن در ولسوالی غوریان ولایت هرات | ۸۷۴,۲۸۱,۰۰۰ دالر |
| ۳ | قرارداد استخراج پروژه بلاک سوم آهن در ولسوالی غوریان ولایت هرات | ۷۷,۳۳۰,۰۰۰ دالر |
| ۴ | قرارداد استخراج پروژه بلاک چهارم آهن در ولسوالی غوریان ولایت هرات | ۱,۰۱۷,۵۰۰,۰۰۰ دالر |
| ۵ | قرارداد استخراج پروژه آهن در ولسوالی پشتون زرغون ولایت هرات | ۱۴۰,۱۰۵,۴۵۹ دالر |
| ٦ | قرارداد استخراج پروژه بلاک اول سرب و جست ولسوالی تولک ولایت غور | ۴٦,۲۷۰,۰۰۰ دالر |
| ۷ | قرارداد استخراج پروژه بلاک دوم سرب و جست ولسوالی تولک ولایت غور | ۸۹,۲۰۹,۳۸۰ دالر |
| ۸ | قرارداد استخراج بخش (گاومزار) بلاک سوم سرب و جست ولسوالی شهرک ولایت غور | ۴۸,۵۱۰,۴۲۰ دالر |
| ۹ | قرارداد استخراج پروژه بخش سوم بلاک سوم سرب و جست ولسوالی شهرک ولایت غور | ۲۴۷,۸۴۱,٦۲۲ دالر |
| ۱۰ | قرارداد استخراج پروژه طلای سمتی ولسوالی چاه آب ولایت تخار | ۳۱۰,۷۱۵,۴۲۰ دالر |
| ۱۱ | قرارداد استخراج پروژه طلای قره زغن ولسوالی دوشی ولایت بغلان | ۱۲۵,۳۳۸,۹۰۰ ؋ |
| ۱۲ | قرارداد استخراج پروژه یاقوت جگدلک ولایت کابل | ۲۷,۵۰۰,۰۰۰ دالر |
| ۱۳ | قرارداد استخراج بلاک دوم پروژه کرومایت کوه صافی ولایت پروان | ۲۱۳,۲۲۴,۰۰۰؋ |
| ۱۴ | قرارداد استخراج بلاک اول پروژه کرومایت کوه صافی ولایت پروان | ۱۸۰,۲۰٦,۰۰۰ ؋ |
| ۱۵ | قرارداد استخراج بلاک چهارم پروژه کرومایت کوه صافی ولایت پروان | ٦۴۳,۸۱۰,۰۰۰ ؋ |
| ۱٦ | قرارداد استخراج پروژه سمنت جبل السراج ولایت پروان | ۲۲۰,۰۰۰,۰۰۰ دالر |
| ۱۷ | قرارداد استخراج پروژه معدن باریت ساحه چهاراولنگ رباط سنگی ولایت هرات | ۴,۰۲۷,۰۰۰ دالر |
| ۱۸ | قرارداد استخراج پروژه معدن سمنت ولسوالی زنده جان ولایت هرات | ۱۳۸,۰۸۷,۸۵۳ دالر |
| ۱۹ | قرارداد استخراج پروژه سمنت شوراندام ولایت قندهار | ۸۲,۱۸۴,۵۰۰ دالر |
| ۲۰ | قرارداد استخراج پروژه معدن زغال سنگ مسجد چوبی ولسوالی کرخ هرات | ۱۸,٦۳۸,۰۰۰ ؋ |
| ۲۱ | قرارداد استخراج پروژه معدن زغال سنگ ساحه نایک ولسوالی اوبه ولایت هرات | ۲۹۸,۸۰۲,۲٦۰ ؋ |
| چهارصد و چهارده میلیارد و نهصد و هشتاد و دو میلیون و هفتصد و پنجاه و هفت هزار و دوصد و هفتاد و هشت افغانی | | |

بیش از سه ســـال میگذرد که کار اکتشاف و استخراج این معادن با سرمایه‌گذاری نزدیک به ۴۱۵ میلیارد افغانی آغاز شـــده اســـت. در این معادن به هزاران نفر زمینه کار نیز مساعد گردیده است.

## ارزش اقتصادی معادن با مقیاس بزرگ در افغانستان

همانطور که قبلاً گفتیم امارت اسلامی افغانستان به هدف توسعه اقتصادی، کار اکتشاف و استخراج شماری از معادن بزرگ را در کشور آغاز کرده است. کار اکتشاف و استخراج ۲۱ معدن با مقیاس بزرگ آغاز شده. در اینجا به طور مختصر به این معادن اشاره مي کنیم:

**آهن:** معدن آهن غوریان هرات در چهار منطقه به شرکت های خصوصی واگذار شده است. بربنیاد اطلاعات وزارت معادن و پترولیم، این معدن چهار بلاک دارد که هر بلاک آن ۲۵۰ کیلومتر را در بر می‌گیرد. معدن آهن غوریان ولایت هرات بیش از ۱ میلیارد و ۸۰۰ تُن آهن دارد که با استخراج آن در کنار افزایش عواید امارت اسلامی، زمینه کار به مردم نیز فراهم خواهد شد. معدن دیگر آهن در هرات معدن آهن منطقه توده ولسوالی پشتون زرغون ولایت هرات است که ۱۷ کیلومتر مساحت دارد و ذخایر آهن آن ۷ میلیون تُن برآورد شده است. مسوولین شرکت قراردادی می‌گویند، مصمم به ساخت کارخانه ذوب آهن پس از آغاز روند استخراج سنگ آهن نیز هستند تا در داخل کشور فولاد تولید و به بازارهای خارجی نیز صادر شود. به گفته مسئولین، ۵۰ درصد آهن این معدن آهن خالص است و در حال حاضر بیش از ۱۰۰ تن با اکتشاف در آن مشغول به کار هستند و با شروع کار استخراج، تعداد افراد مشغول به کار به ۱۵۰۰ تن افزایش می یابد.

**کرومایت:** معدن کرومایت کوه صافی از کوه صافی آغاز گردیده الی مناطق پیک سرپوخی ولایت پروان ادامه دارد. تا اکنون چندان تحقیق کامل در مورد این معادن صورت نگرفته است. درکنار این معدن اکنون معادن کرومایت در چندین مناطق مانند، خوست، لوگر ،ننگرهار، کنر و قندهار نیز وجود دارند. نقطه ذوب این فلز ۲۱۳۰۰ درجه سانتی گراد می‌باشد. معمولاً با آهن و مگنیزیم یکجا یافت می‌شود. از این لحاظ فابریکه‌های ذوب آهن از مخلوط نمودن کرومایت با آهن برای آهن مقاومت بیشتر را می‌دهند. طور عموم فابریکه‌های ذوب فلزات از کرومایت غرض صنایع متالوژی، کیمیاوی و مقاوم گردیدن فلزات استفاده می‌نمایند. برای انکشاف صنعتی آینده افغانستان به خصوص در صنعت فولاد سازی فابریکه آهن حاجی گک بامیان به کرومایت نیاز می‌باشد.

**سنگ‌های قیمتی:** افغانستان در زمینه‌ای سنگ های قیمتی مانند، لاجورد، زمرد و یاقوت نیز شهرت جهانی دارد. معدن یاقوت جگدلک در ۳۵ کیلومتری جنوب غرب ولسوالی سروبی و در ۱۰۰ کیلومتری شهر کابل موقعیت دارد. هرچند اداره های خارجی در مورد این معدن تحقیقات را انجام داده است، اما گفته می‌شود که هنوز رقم مجموعی یاقوت موجود در این معدن معلوم نیست. فقط گفته میشود که در هر متر مکعب از ۲,۱۲۲ تا ۳,۱۵۷ گرام یاقوت وجود دارد. شواهد تاریخی نشان می دهد که حفریات در

این معدن از زمان امیر شــیر علی خان ادامه داشته و یاقوت به اشکال مختلف استخراج شده است. یاقوت پس از الماس و زمرد ســومین سنگ قیمتی در جهان می‌باشــد. این مواد معدنی می‌توانند منبع عظیمی برای صادرات باشند و عواید قابل توجهی را به کشور وارد کننــد. ارزش اقتصــادی این معــادن به‌ویژه در بازارهای جهانی می‌تواند میلیاردها دالر باشد.

گزارش برنامه توســعه ســازمان ملل متحد نشان می دهد که ســنگ های قیمتی افغانستان دارای ارزش مجموعی ســالانه پنج میلیون دالر است و این ارزش می تواند بعد از اســتفاده فنی و روشــهای مناســب اســتخراج به سرحد یک صد و شصت میلیون دالر در سال افزایش یابد.

**مواد ساختمانی:** معادن گچ و سنگ‌های ساختمانی مورد نیاز برای تولید سمنت در افغانستان نیز از اهمیت بالایــی برخوردارند. این معــادن می‌توانند برای تأمین نیازهای داخلی به سمنت و دیگر مواد ساختمانی، در راستای رشد صنعت ســاخت ســاز و زیربناها استفاده شــوند. این معادن با بهره‌برداری مسلکی و درست می توانند منبع عاید پایدار برای کشور ایجاد کرده و سطح واردات مواد ساختمانی را کاهش دهند.

**مواد تولید کننده انرژی:** افغانســتان دارای منابع وسیعی از زغال‌سنگ است که می‌تواند برای تأمین انرژی داخلی و صادرات اســتفاده شود. معادن زغال‌سنگ در ولایت بامیان، هرات و قندوز واقع شده‌اند. با توجه به تقاضای بالا برای زغال‌سنگ در صنعت برق و فولاد، بهره برداری از این معادن می‌تواند به افغانستان کمک کند تا بخش قابل توجهی از نیازهای انرژی داخلی خود را تأمین کرده و حتی به بازارهای جهانی صادرات داشته باشد.

## نتیجه گیری

افغانســتان معادن با ارزش بســیار دارد. در این معادن عناصری مانند لیتیــوم وجود دارد که بــرای تکنالوژی معاصر ارزش حیاتی و اساسی دارد. سروی های مختلف و بررسی های اقتصادی نشان داده که قیمت این معادن از یک تریلیون دالر تا سه تریلیون دالر می‌رسد. چندین دهه تلاش برای اکتشــاف و استخراج این معادن صورت گرفته است. اما به دلیل تغییرات سیاسی در کشور، جنگ ها و تهاجمات کشــورهای خارجی، مردم افغانســتان نتوانسته اند این معادن را استخراج کنند که منجر به رفاه و استقلال اقتصادی مردم شود. اگر به صورت مسلکی اســتخراج شود، عواید آن به درســتی مدیریت و مصرف شــود، مردم افغانســتان از یک ملت فقیر به یک ملت ثروتمند و خودکفا تبدیل خواهند شــد. اکنون که امارت اسلامی به اقتصاد مبتنی بر معادن روی آورده و استخراج و اکتشــاف معادن بزرگ، متوسط و کوچک را در سطح کشــور آغاز کرده اســت یک امر مهم پنداشته می‌شود. امارت اسلامی افغانستان در کنار عقد قراردادهای معادن جدید به نظارت آن نیــز توجه کرده و معادنی که قبلاً به کمپنی های داخلی و خارجی به قرارداد داده شده باید بررســی و نظارت کند تا کارهای عملی آن به وقت معین آغاز شده و برای مردم زمینه ای کار مساعد گردد.

# په ملي اقتصاد کې
# د سوداګرۍ ارزښت
# او په‌کې شوې هڅې

**لیکوال:** عبدالله ایمل

**په اقتصادي وده کې د صادراتو ارزښت، د اسلامي امارت له راتګ وروسته د افغانستان د صادراتو وضعیت او د هېواد پر اقتصادي وضعیت یې اغېزې هغه موضوعات دي، چې په دې مقاله کې ورباندې بحث شوی دی.**



## سریزه

افغانســـتان د خپل جیوپولټیک موقعیـــت له امله په سـیمه کې یو مهم هېواد دی او د سـیمې هېوادونو ترمنځ د پله حیثیت لري. دا هېواد د تاریخ په اوږدو کې د ختیځ او لوېدیځ ترمنځ د ســوداګریزو کاروانونو مهم مسیر پاتې شوی دی او په دې برخه کې په دودیزه توګه د توکو د لېږد رالېږد اړوند اوږده مخینه لري.

پر افغانســـتان د پخواني شـــوروي اتحـــاد او امریکا د یرغلونو له امله په تېرو څه باندې څلورو لســیزو جګړو کې د دې هېواد د نورو برخو په شان د سوداګرۍ برخه هم زیانمنه شوه، د افغانســـتان غوره صادراتي توکي، لکه غالۍ، ټغر، وچې مېوې، تازه مېوې ... له صادرېدو پاتې شوې، چې له امله یې د دې هېواد اقتصادي وده هم په ټپه ودرېده. د ۱۴۰۰ لمریز کال د زمري په ۲۴ مه (۲۰۲۱ د اګســـټ ۱۵مـــه) په افغانســـتان کې د اســـلامي امارت تـــر واکمنېـــدو وروســـته د هېواد د اقتصادي پرمختګ لپاره هڅې پیل شوې، د دې هڅو په لړ کې سوداګري یوه مهمه برخه ده، چې د اسلامي امارت له لوري ځانګړې پاملرنـــه ورته کېږي او په تېرو شـــاوخوا درېیو کلونو کې یې د پـــام وړ پرمختګ کړی دی. په دې موده کې د افغانســـتان صـــادرات زیات شول، له صادراتو او وارداتو څخه د راټولېدونکو عوایدو په بهیر کې روڼتیا رامنځته او سوداګرو ته د سوداګرۍ په برخه کې لازمې اســـانتیاوې برابرې شـــوې، چې له امله یې د افغانستان د کمزورې سوداګرۍ د پرمختګ بهیر ګړندی شـــوی دی. د پرمختګ همـــدا بهیر، په اقتصادي وده کې د صادراتو ارزښت، د اسلامي امارت له راتګ وروســـته د افغانستان د صادراتو وضعیت او د هېواد پر اقتصادي وضعیت یې اغېزې هغه موضوعات دي، چې په دې مقاله کې ورباندې بحث شوی دی.

## په سوداګرۍ کې ترسره شوې هڅې

د اسلامي امارت په راتګ سره د سوداګرۍ په کچه کې د پخـــوا په پرتله د پام وړ زیاتوالی راغلی دی چې د تېر ۱۴۰۱ او ۱۴۰۲ لمریـــز کلونو کې پـــه ترتیب سره د صادراتو کچه ۲ او ۱،۹ میلیارد ډالرو ته رسېدلې چې دا رقم د هېواد د صادراتو په تاریخ کې یو بې مخینې رقم دی. همدارنګه د اســـلامي امارت پـــه راتګ سره هڅه شوې چې د اړتیا وړ توکي په کور دننه له شته سرچینو څخه پوره کړي. دا مهال افغانستان د لسګونو تولیدي اقلامو په برخه کې ځان‌بسیاینې ته رسېدلی دی. خو



لاهم هېواد ډېری داسې توکو ته اړتیا لري چې له بهر څخه یې وارد کړي. په همدې موخه یې له ګاونډیو، سیمې او نړۍ هېوادونو سره سوداګریزې اړیکې پراخې کړې دي.

اسلامي امارت د سوداګرۍ په برخه کې بې شمېره اسانتیاوې رامنځته کړې دي چې عبارت دي له: د صنعت کارانو د بریښنا ستونزو حلول، د صنعتي پارکونو پراختیا، د صنعتي خونو جوړول، په خامو مواد د تعرفې کمول، د سړو خونو جوړول، د ملي او نړیوالو نندارتونونو جوړول، د مالیاتي جریمو معافېدل، په ګمرکونو کې د ۲۴ ساعته خدمتونو وړاندې کول، د هوايي دهلېزونو پرانیستل او په ترانزیټ کې د آسانتیاوو رامنځته کول. همدا ډول د اسلامي امارت له لوري د سوداګرۍ په برخه کې د پانګونې لپاره زمینه برابره شوې ده، هغه برخې چې په کې عملي پانګونه شوې او یا هم کېدونکې ده، عبارت دي له: د ترانسپورټ معیاري کول، د ګمرکونو عصري کول، د کرنیزو محصولاتو پروسس او بسته بندۍ د مرکزونو جوړول، د توکو د کیفیت د کنټرول لپاره د معیاري لابراتوارونو جوړېدل، د ګودامونو جوړول، او د صنعتي پارکونو پراختیا او جوړول.

## صادرات

په ۱۴۰۳ لمریز کال کې اسلامي امارت د صادراتو اهمیت ته په پاملرنې سره په دې برخه کې ګړندي ګامونه پورته کړي دي. افغانستان د خپلو یو شمېر صادراتي اقلامو له مخې په نړۍ کې شهرت لري، چې ښه بېلګه یې غالۍ دي. افغانستان د تاریخ په اوږدو کې له ګاونډیو، سیمې او د نړۍ له نورو هېوادونو سره سوداګري درلوده او پر مټ یې د هېواد صادراتي توکي









صادرول. وچه مېوه لا هم د افغانســـتان مهم صادراتي توکي جوړوي. ددې ترڅنګ افغــاني غالۍ، ټغر او یو شـــمېر نور افغـاني تولیـــدات د افغانســـتان د مهمو صـــادراتي توکـــو په کتار کـــې راځي، چـــې دمګړۍ پاکستان، هندوستان، ازبیکستان، تاجکستان، ایران، متحده عربي اماراتو، چین، ترکیې، قزاقستان، عراق او ان په نړیوالو بازارونو کې ښه مارکېټ لري. په ټوله کې صادرات د یو هېواد په اقتصادي پرمختګ کې غوښنه ونډه لري او په اقتصادي پرمختګ، د روزګار په کچه او د سوداګرۍ پر بېلانس مثبت اغېز لري.

د دې له پاره چې یو هېواد د اقتصادي پرمختګ پړاو ته ننوځي، باید د ســـوداګرۍ په بېلانس کې یې صادرات له وارداتو زیات وي، ځکـــه ډېر صادرات د ډېرو بهرنیو اسعارو د ترلاســـه کولو لامل ګرځي او د بهرنیو اسعارو زېرمـــې په نړیوالو بازارونو کې د یوه هېواد د پېر ځواک غښتلی کوي.

د تېـــر ۱۴۰۲ لمریـــز کال پر مهال افغانســـتان د یو میلیارد او ۹۰۰ میلیون ډالرو په ارزښـــت ۱۵۰ بېلابېل صادراتي توکي بهرنیو هېوادونو ته صادر کړي دي چې دا د هېـــواد په تاریخ کې یو بې ســـارې ګام دی. دغه توکي پاکستان، هندوستان، ازبیکستان، تاجکستان، ایران، متحده عربي اماراتو، چین، ترکیې، قزاقستان، او عراق ته ۹۷ ســـلنه او پاتې ۳ ســـلنه توکي د نړۍ نورو هېوادونو ته صادر شـــوي دي. هغـــه توکي چې د ټولو صادراتو ۷۶ ســـلنه جـــوړوي، هغه انګـــور، مڼې، انار، زردالو، پســـته، بادام، جلغوزي، وچ انځیر، ممیز، ډېرو ســـکاره، هنجه، پنبـــه، پیاز، رومي بانجـــان، زعفران، غالۍ،ګلیم او طبي بوټي دي.

## واردات

افغانســـتان یو مصرفوونکی هېـــواد دی چې د خپلې اړتیـــا وړ توکي له گاونډیو، ســـیمې او د نړۍ له نورو هېوادونو څخه واردوي. واک ته د اســـلامي امارت په رســـېدو سره هڅه شوې چې افغانســـتان له وارداتي هېـــواد څخه په صادراتي هېـــواد بدل کړي. همدې موخې ته د رســـېدو په پار اســـلامي امـــارت په هغو وارداتي توکو چې په کور دننه تولیدیږي له بهر هېوادونـــو څخه یې په واردېدو مالیه لوړه کړې تر څو په کور دننه صنعت وده وکړي، د صادراتو کچه لوړه، د وارداتـــو کچه کمـــه او په ټوله کـــې د صادراتو او وارداتو ترمنځ متوازن بېلانس رامنځته شي.

افغانســـتان د اړتیـــا وړ توکي له ایران، پاکســـتان، چین، متحده عربي اماراتو، ترکمنســـتان، قزاقستان، ازبیکستان، روســـیې، مالیزیا، تاجکستان او د نړۍ له نورو هېوادونو څخه واردوي.



## د کورنیو تولیداتو لپاره بازارموندنه

د اســـلامي امارت په راتګ سره د کورنیو تولیداتو لپاره بازارموندنې په برخه کې کوټلي ګامونه اخیســـتل شوي دي. پـــه دې برخه کې په کور دننـــه سربېره په بهر کې بېلابېل نندارتونونه جوړ شوي دي. چې ښې بېلګې یې په چین، قطر، ایران، متحده عربي اماراتو، قزاقســـتان، ازبیکستان او یو شمېر نورو هېوادونو کې د افغان کرنیزو او تولیدي محصولاتو لپاره د بازارموندنې په موخه د



نندارتونونو جوړول دي. همدارنګه په کور دننه پر لسګونو کوچنیو او متوسطو نندارتونونو سربېره د امام ابوحنیفه او کابل نړیوال نندارتونونو جوړېدل یې ښـــې بېلګې دي چې په سلګونو غرفو کې افغاني کرنیز او تولیدي توکي نندارې ته په کې وړاندې شوي دي. د ارقامو له مخې د ســـلګونو میلیون ډالرو په ارزښـــت د خصوصي سکټور ترمنځ تړونونه په دغو نندارتونونو کې لاسلیک شوي وو. د یادولو وړ ده چې نندارتونونه د محصولاتو د معرفي کېدو ترڅنګ د ســـوداګرۍ د غوړېـــدو او ودې له پاره تر ټولو غوره لار ده او له دې لارې کولای شو محصولات خلکو ته وړاندې او سوداګر دې ته وهڅوو  چې په دې برخه کې پانګونه وکړي. همداراز نندارتونونه ددې له پاره جوړېږي چې د یوه هېواد صنعتي او کرنیز محصولات دواړه خلکو ته معـــرفي شي. حکومتونـــه هڅه کوي چـــې د خپلو محصولاتو له پاره په کور دننه او بهر کې د بازارموندلو په خاطر نندارتونونه جوړ کړي.

## پایله


د اسلامي امارت په راتګ سره د سوداګرۍ په کچه کې د پخوا په پرتله د پام وړ زیاتوالی راغلی او په دې برخه کې کوټلي ګامونه اخیســـتل شـــوي دي. د کورنۍ او بهرنـــۍ پانګونې له پـــاره خوندي چاپېریـــال رامنځته شـــوی، د صنعتي پارکونو جوړولو له پاره هڅې روانې دي، د پالیسیو، کړنلارو او تګلارو پر چمتو کولو عملي کار پیل شوی، د لویو لارو د بیارغونې او د ریل پټلۍ له لارې د سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره د هېواد نښلولو چارې پـــه چټکـــۍ سره دوام لـــري، څو پـــه نړېواله سوداګرۍ کې د افغانستان ونډه زیاته شي.

# د افغان – ټرانس

## اوسپنې پټلۍ پروژې اقتصادي ارزښت ته کتنه

**لیکوال:** فضل ولي شیراني

په دې لیکنه کې په افغانستان کې د اوسپنې پټلۍ تاریخچه، افغان- ټرانس پـــروژه او د افغان- ټرانس اقتصادي ارزښت ته کتنه کوو.



## سریزه

افغانســـتان د نړۍ یو له هغو هېوادونو څخه دی چې سمندر ته لار نه لري. په نړۍ په ځانګړي ډول اسیا کې هغه هېوادونه چې په وچه کې پراته دي، تر ټولو غوره، خوندي او ارزانه ترانســـپورټ د رېل ګاډي دی. بله دا چې د چټکې ســـوداګرۍ د ودې لپاره کولای شـــو د اوسپنې پټلۍ له لارې د سیمې او نړۍ ګڼو سوداګریزو مارکېټونـــو ته ځان ورســـوو او پرته له دې موږ نه شـــو کولای د سیمه ییز اتصال تر عنوان لاندې د سیمې او نړۍ له سترو اقتصادي او سوداګریزو بازارونو سره وصل شو؛ نو همدې اصل ته په کتو د افغانستان اسلامي امارت د نورو سکټورونو ترڅنګ د اوسپنې پټلۍ برخې ته پوره پام ور اړولی دی او په دې برخه کې یې ځینې پـــروژې پلې او د ځینو له پاره یـــې پلانونه چمتو کړي دي. کله چې د اوســـپنې پټلۍ له لارې افغانستان د سیمې هېوادونو او بیا له نړۍ سره ونښلول شي، نو بیا دا ډاډ شـــته چې د افغانستان ســـوداګري به پراختیا وکړي او ترڅنګ به یې اقتصادي وده رامنځته شي. له دې څخه یوه هم د افغان- ټرانس اوسپنې پټلۍ ستره پروژه ده. په دې لیکنه کې په افغانستان کې د اوسپنې پټلۍ تاریخچه، افغان- ټرانس پروژه او د افغان- ټرانس اقتصادي ارزښت ته کتنه شوې ده.


## په افغانستان کې د اوسپنې پټلۍ تاریخچه

افغانســـتان د خپل ځانګړي جغرافیایـــي موقعیت له مخـــې د ســـیمې د دریېو اقتصـــادي، کلتـــوري او جیوپولټیکو حوزو په منځ کې پروت دی. په ســـویل او ختیځ کې ســـویلي اسیا، په شمال کې مرکزي اسیا او لویدیځ کې یې ایران دی. له همدې امله افغانستان دا درې واړه حوزې یو له بل سره تړلې دي. له دې سیمو یا حوزو څخه مرکزي اسیا او سویلي اسیا کولای شي د یو بل له پاره ګڼ فرصتونه رامنځته کړي. خو د ډاډمنو ترانسپورتي او مواصلاتي لارو له هغې جملې اوسپنې پټلۍ شـــبکو د نه پراختیا له امله لا هم پر دې نه دي توانیدلي چې له یو بل سره په بشـــپړ ډول سوداګریزې اړیکې رامنځته کړي. افغانستان د اوسپنې پټلۍ اوږد تاریخ لري، خو پر افغانستان د بهرنیو یرغلونو او دلته د جګړو له امله دې مهمې برخې لکه څنګه چې پکار وه، هسې پراختیا نه ده موندلې.



## د افغان- ټرانس اوسپنې پټلۍ پروژه

د افغان- ټرانس ریل پټلۍ ۷۶۰ کیلومتره اوږدوالی، ۳۳ د اورګاډي پلونه او ۳ سټېشنونه لري او د يادي پروژې د جوړولو اټکل شـوې بودیجه ۴،۸ میلیارده ډالره ښودل شوې ده. د افغان- ټرانس رېل پټلۍ پروژه د لومړي ځل لپاره د ۲۰۱۸ کال په ډسـمبر کې د ازبیکستان لخوا وړاندیز شـوې وه، موخه یې دا وه چې د افغانسـتان د اورګاډي شبکه له مزارشریف څخه کابل او بیا ننګرهار ولایت ته وغځوي، چې دا پټلۍ به له تورخم تېرېږي او د پېښور له لارې به پاکسـتان ته داخلېږي او تر ننوتو وروسته به د پاکستان تجارتي توکي د ریل سیسټم سره د نښـلولو په موخه خالي او په پـای کې به د کراچۍ، ګـوادر او قاسـم بندرونو ته لېږدول کیـږي. د افغان- ټرانس د اوسـپنې پټلۍ چې په اوسط ډول به په کال کـې ۱۵ میلیونه ټنه سـوداګریز توکي ولیـږدوي، په جوړېدو سره به یې له یوه لوري مرکزي اسـیا او سویلي اسیا سره ونښلول شي او له بل لوري به افغانستان خپل سـوداګریز او صادراتي توکي منځنۍ اسـیا او جنوبي اسـیا هېوادونو ته په ټیټه بیه انتقال او همدارنګه به له دغو هېوادونو څخه د اړتیا وړ توکي په کمه بیه وارد کړي چـې دا خپله د اسـیا د اتصال پر نقطـې د هېواد د بدلېـدو، د عوایـدو د زیاتوالي، سـوداګرۍ پراختیا، اقتصـادي ودې او د هېواد د پرمختـګ او ترقۍ لامل ګرځي. خو د ۱۴۰۲ لمریز کال د چنګاښ په میاشـت کې د اسـلامي امـارت د ټولګټـو وزارت د ریل پټلۍ مرسـتیال د دې پروژې د مسـیر د بدلولو هوکړه لیک لاسلیک کړ. مخکې دا ریل پټلۍ د ازبیکستان له ترمذ څخـه مزارشریف، کابل، ننګرهـار او د تورخم بندر له لارې پیښـور ته غځول کېده، خو د نوي مسیر په ټاکلو سره به اوس دغه ریل پټلۍ د ازبیکسـتان له ترمذه د افغانستان مزار شریف، لوګر او له هغه ځایه پکتیا کې د خرلاچۍ لـه لارې پر ډیورنډ فرضي کرښـه کورمې ته واوړي او بیا به د پاکسـتان د اورګاډو شبکې سره وصل شي. د یادې ریل پټلۍ په مسـیر کې د بدلون راوستلو موخه دا ده چې د پخواني مسیر په پرتله دا نوی مسیر لنډ او اقتصادي دی. اسلامي امارت د اقتصادي ودې او پراختیـا په برخه کـې او همدارنګه له سـیمې سره د نښـلولو لپـاره خپلې هڅـې ګړندۍ کـړې دي او د افغان-ټرانس ریل پټلۍ پروژه یوه له دغو پروژو څخه ده. دغه راز د ریل پټلۍ د پراختیا له پاره ځینې طرحې هم چمتو شوې دي. د اقتصادي کمېسیون چې مشري یې د ریاسـت الـوزراء اقتصـادي مرسـتیال محترم ملا عبدالغني بـرادر اخوند پر غاړه ده، د اوسـپنې پټلۍ اداري تـه چـې اوس د ټولګټـو وزارت معینیت دی، لارښـوونه شـوې چې د اوس لـه پـاره دې د هرات- تورغنـډی، رباط پریان، هوايي ډګـر او اندخوی- مزار شریـف پروژو باندې کار وکړي. دغه راز له دې معینیت څخه غوښتل شوي چې له هرات څخه تر سپين بولدک پورې د ریـل پټلۍ غځولو په موخه دې خپل مطالعات بشپړ او د هدایت اخیسـتلو په موخه دې له اقتصادي معاونیت سره شریک کړي. که دا پروژې بشپړې شي نو له شک پرته به افغانستان د اسیا لویې وچې د وصل په نقطه بدل شي. دا چې د دې پروژې اقتصادي ارزښت څه دی، لاندې یې په ګډه لولو.



## د افغان- ټرانس اوسپنې پټلۍ اقتصادي اغيزې

انساني تمدن د اړيکو او سوداګرۍ محصول دی، دغې برخــې د ټرانســپورټ لــه لارې پرمختــګ کــړی. د ټرانســپورټي سيستمونو په برخه کې د ۱۹مې پېړۍ په لومړيو کې د اوســپنې پټلۍ په اختراع سره لومړی په انګلســتان او بيا په نورو اروپايي هېوادونو او امريکا کې صنعتي انقلاب رامنځته شو. اوسمهال په نړۍ کې ډېر کم داسې هېوادونه شته چې د اورګاډي پټلۍ نه لري، بلکې د اورګاډي هر ډول شبکې په ډېرى هېوادونو کې غځيدلې دي او له همــدې لارې له نورو هېوادونو سره نښــلول کېږي. په ټوليز ډول ويلای شو چې نن سبا د نړۍ زياتره هېوادونه، سيمې او حتی لويې وچې د ريل پټلۍ له لارې له يو بل سره وصل دي او د مســافرينو او سوداګريزو مالونو لويه برخه د اورګاډي د کرښو له لارې ترسره کېږي. خو د نړۍ د نورو هېوادونو په خلاف زموږ هېواد افغانستان له دغه کاروان څخه شاته پاتې دی. له نېکه مرغه په تېرو شاوخو درېيو کلونو کې دې مهمې او حياتي مســئلې ته چې د افغانســتان اقتصاد بدلولای شي، پاملرنه شوې ده. د رېل پټلۍ د جوړولو او غځولو په برخه کې مهم اقدامات ترسره شوي چې افغانستان يې پر مټ کولای شي د سيمې پر څلور لارې بدل کړي. د افغان- ټرانس رېل پټلۍ شــبکې له لارې افغانســتان کولای شي نور هېوادونه وهڅوي چې د افغانســتان له لارې د سيمې د نښــلولو او له ګاونډيو او نورو هېوادونو سره د دوه اړخيزې او څو اړخيزې سوداګرۍ د پراختيا په برخه کې عملي ګامونه پورته کړي. په دې برخه کې هغه ښه فرصت چې په هيواد کې برابر شوی، د امنيت

ټینګښت دی او هغه لېوالتیا ده چې د اسلامي امارت لخوا پــه دې برخه کې ښــودل کېږي. د افغانســـتان ګاونډیان باید له دې فرصت څخه ښه ګټه پورته کړي او په افغانستان کې د اورګاډي پټلۍ په برخه کې پانګونه وکړي. ځکه که شته پروژې بشپړې او پراختیا ومومي، د افغانســـتان له لارې به ختیځ له لویدیځ او شمال به له سویل سره ونښلول شي او د سیمه‌ییز ترانزیټ په برخه کې به انقلاب رامنځته شي. افغان- ټرانس پروژه له څو اړخونو د اهمیت وړ ده. لومړی ســـیمه ییز وصل: د رېل پټلۍ دغه شبکه به افغانستان د سیمې له ریلي شبکې سره ونښـــلوي او په دې سره به افغانستان ددې فرصت پیدا کړي چې د منځنۍ او سویلي اسیا نویو بازارونو ته لار ومومي. د دې شبکې په جوړېدو سره به په افغانستان کې د توکو لېږد اسانه او ارزانه شي، سوداګري به پراخه، پانګونه به راجلب او خلکو ته به د کار زمینه برابره شي. د افغان- ټرانس پروژې په عملي کېدو سره به د سوداګریزو توکو لګښت ۴۰ سلنه راکم شي. په ټوله کې د اوسپنې پټلۍ په ځانګړي ډول افغان- ټرانس اوسپنې پټلۍ پروژه د افغانســـتان له پاره کورنۍ، دوه اړخیزې او سیمه‌ییزې ګټې لري. افغانســـتان د یو مصرفي او وارداتي هېواد په توګه کــولای شي د همدې پټلۍ لــه لارې د ګاونډیو هېوادونو تولیداتو ته لاسرسی ولري. دغه راز د مالونو د لېږد رالېږد لپاره به د اورګاډي پټلۍ کارول چې په ارزانه بیه تــرسره کېــږي د دې لامل شي چې لــه ګاونډیو هېوادونو څخه افغانستان ته د وارداتي توکو بیې راټیټې او افغانانو ته په ارزانه بیه وړاندې شي. د افغانستان لپاره د افغان- ټرانس پټلۍ د غځولو بله ګټه دا ده چې دغه هېواد به د ګاونډیو هېوادونو د اورګاډي له شـــبکو سره وصـــل شي. د بېلګې په توګه افغانســـتان به د افغان- ټرانس له لارې د منځنۍ اسیا او سویلي اسیا هېوادونو د ریل پټلۍ له شبکو سره ونښلول شي. چې په پایله کې به ازادو اوبو ته لاسرسی پیدا کړي.

په دوه اړخیزه کچه، د افغانســـتان او ګاونډیو هېوادونو لپاره رېـــل پټلۍ ډېرې ګټې لري. د اوســـپنې پټلۍ د کارولو یو له دوه اړخیزو ګټو څخه د ترانسپورټي لګښتونو کمول دي. بله ګټه يې د افغانستان او ګاونډیو هېوادونو په ګمرکونو کې د فشار او ګڼې ګونې کمول دي. اوس مهال په ګمرکونو د ګمرکي چارو د ترسره کولو لپاره د بار وړونکو موټرو راټولېدو په ګمرکونو کې ګڼه ګونه رامنځته کړې او مالونه د اوږدې مودې لپاره په ګمرکونو کې بند پاتــې دي، چـــې دا د وخت د ضایع کولـــو سربېره، د مصرفي توکو په ځانګـــړې توګه خوراکي توکو د ختم پر نېټو منفي اغېز کوي. ځینـــې خوراکي توکي د اوږدې مودې درېدو په پایله کې خرابېدای شي. د رېل پټلۍ په کارولو سره طبیعي خبره ده چې دا ستونزې به حل شي. د دې انګېرنې سره چې افغانســـتان د اسیا په مرکز کې موقعیت لري او د یوې څلور لارې حیثیت لري، د سیمې په کچه د ګاونډیو هېوادونو د ریل پټلۍ له شبکو سره د افغانستان نښلول ستره ګټې او اهمیت لري.

د دې ترڅنـــګ؛ د افغان – ټرانس پـــروژه، چې د درېیو هېوادونو (ازبیکســـتان، افغانســـتان، پاکستان) ترمنځ جوړېږي، ویل کېږي چې دا پروژه به د ازبیکســـتان له ترمذ ښاره پیل او د افغانستان له څو ولایتونو وروسته به د پاکستان له ریل پټلۍ شبکې سره ونښلول شي، همدا

راز د افغانســتان، پاکستان او ازبیکســتان مسوولینو د معلوماتو پر بنســـټ، د افغان-ټرانس اوسپنې پټلۍ د پروژې د جوړولو لګښت شاوخوا ۴،۸ میلیارده ډالره اټکل شوی دی. د دې سـیمه ییزې پـروژې په پـلي کېـدو سره به د منځنـۍ اســیا هېوادونــه د هند سمندر ته لاسرســـی ولري، د دې پروژې پــه پلي کېدو سره به د توکو د رسـېدو وخت لــه ۳۵ ورځو یــوازې پنځــو ورځو ته راښـــکته او په لګښـــت کې به یې هم ۴۰ ســـلنه کمــوالي راشي. د افغان- ټرانس اوسپنې پټلۍ پروژې پــه عملي کېــدو سره به د ســویلي او ختیځې اســیا هېوادونــه یو لــه بــل سره وصــل او ددې هېوادونو د سوداګرۍ کچه به میلیاردونو ډالرو ته لوړه شي. له کومو ولایتونو څخه چې دا پټلۍ تیرېږي په هغو ولایتونو کې به ســوداګري پراختیا ومومي، تر ۲۰۳۰ میلادي کال پورې به له دې لارې شــاوخوا ۱۵ میلیونه ټنه انتقالات ترسره او په ټوله کې به په هېواد کې د کار، سوداګرۍ او تګ راتګ لپاره زمینه برابره شي.

## پایله

افغانســتان د جغرافیایي موقعیت له امله ســمندر ته مســتقیمه لاره نه لري او د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره تړل ورته ډېر ارزښت لري. د دې وصل له پاره موږ اړ یوو چې له ځمکني ترانسپورټ څخه ګټه پورته کړو. د ځمکني ترانســپورټ په برخه کې پــکار ده چې په معیار برابر لویې لارې او سړکونه ولرو. خو په دې ډول ترانســپورټ کې بیــا تر ټولو غوره ترانســپورټ د رېل ګاډي دی ځکــه د رېل له لارې د توکــو لېږد د نورو ترانسپورټي وسایلو په پرتله ارزانه او اقتصادي تمامېږي. همدې اصل ته په کتو اســلامي امارت په هېواد کې د اوســپنې پټلۍ د شــبکو غځولو ته مخه کړې ده. دا مهال افغانســتان د اوسپنې ځینې فعالې کرښــې لري، خو دا په هغه اندازه نه دي چې وکولای شي افغانســتان له نړۍ سره ونښــلوي. باید پراختیا ومومي او د اوسپنې پټلۍ سترې پروژې عملي شي. په دې برخه کې اســلامي امارت خپلې هڅې او طرحې چمتو کړې دي او پر ځینو خو یې عملاً کار پیل کړی دی چې ښه مثال یې خواف- هرات اوسپنې پټلۍ ده. د دې پټلۍ په مرســته موږ کولای شو لومړی ایران او بیا منځني ختیځ ته لار پیدا کړو. دغه راز د اوســپنې پټلۍ ځینــې نورې طرحې تــر کار لاندې دي لکه د هــرات- تورغنډۍ چې کــولای شي افغانســتان له ترکمنســتان او مرکزي اسیا سره ونښــلوي. د هرات- کندهار اوســپنې پټلۍ لــه لارې بیا افغانســتان له پاکســتان او د جنوبي اسیا اوسپنې پټلۍ سره نښلول کېږي. د هرات- مزار شریف اوسپنې پټلۍ په جوړېدو سره افغانســتان لومــړی د ازبیکســتان او بیــا لــه تاجکســتان او په پای کې له چیــن هېواد سره وصل کېږي. په دې ټولو کې بیا د اوســپنې پټلۍ ســتره او مهمه پروژه د افغان- ټرانس پروژه ده. د اوسپنې پټلۍ د دې او نورو پلان شــویو پروژو په عملي کېدو سره به افغانستان لومړی سمندر او بیا به نړیوالو مارکېټونو ته لاسرســی پیدا او پر مټ به یې خپله سوداګري پراخه کړي. د ســوداګرۍ پــه پراختیا او غوړېــدو سره به اقتصادي وده پیل او افغانستان به ډېر ژر یو پرمختللی اقتصاد ولري.

# مروری بر تلاش های امارت اسلامی در کنترول قیمت مواد سوخت در کشور

در این مقاله به برخې تلاش های امارت اسلامی در زمینه کنترول قیمت مواد سوخت در کشور پرداخته شده است.

**نویسنده:** نجیب الله مایار



## مقدمه

یکی از وظایف مهم حکومت ها رسیده‌گی به مشکلات مردم به موقع اســت. مســؤلین امارت اسلامی همواره وعده سپرده اند که حل مشکلات مردم در اولویت کاری شـــان قرار دارد و باروی کار آمدن بر سر قدرت به تمام نهادهـــای ذیربط در این زمینه توصیه های جدی کرده اند. گرچـــه پس از یـــک جنگ طولانـــی حل تمامی مشـــکلات مردم به یکباره گی غیر ممکـــن و به دور از امکان است، اما اگر عزم قوی وجود داشته باشد، پس با گذشـــت زمان قابل حل است. برخی از مشکلات مردم طوری است که اگر حکومت بخواهد، می‌تواند در عین حال با اقدامات عملی در رفع آن کمک کند، اما برخی دیگر آن مشکلاتی هستند که برای حل آنها باید سال ها کار کرد تا با ایجاد زیربناها و ظرفیت ها برایش راه حل پیدا شـــود. کنترول قیمت های مواد اولیه به ویژه مواد ســـوخت، چیزی است که بســـیاری از هموطنان آن را میخواهند، به خصوصی مردم فقیر که با آمدن زمستان سرد بتوانند خانه های شان را گرم کنند. امارت اسلامی با درنظرداشـــت تقاضای مردم یک سلسله اقدامات را برای افزایش مواد سوخت در بازار و کاهش قیمت آن به خصوص چوب و زغال ســـنگ در مرکـــز و ولایات انجام داده است.

## توزیع زغال سنگ به قیمت نازل در سراسر کشور

با فرارسیدن فصل زمســـتان مواد سوخت در بسیاری از نقاط کشـــور یکی از نیازهای اساســـی مردم تشـــکیل میدهند، اما این مشـــکل در شهرها به خصوص در شهر کابل جدی است، زیرا این شهر مثل سایر ولایات چوب و مواد سوخت دیگر از خود ندارد و همه از ولایات دیگر می آیند. در ادارۀ قبلی کابل و سال‌های قبل از آن جنگل های زیادی کشـــور با اره برقی قطع و بـــرای فروش به شهرها آورده می‌شد که باعث گردیده بخش بزرگ جنگل های طبیعی در کوه‌ها از بین برود. امارت اسلامی قطع جنگلات را به عنوان یک سرمایـــه ملی کرده و به بدیل های دیگر به عنوان مواد سوخت روی آورد که یکی از آنها زغال سنگ است که ذخایر فراوان در کشور دارد. هرچند اســـتخراج زغال‌سنگ طی چند ســـال گذشته سرعت گرفته و در بازارها قابل دسترس است، اما با فرارسیدن



زمستان بسیاری از هموطنان شکایت دارند که قیمت‌ها بلند رفته و امارت اســلامی بایــد در زمینه توجه نماید. امارت اســلامی به منظور حل مشکل مردم، سلسله ای توزیع زغال سنگ را به قیمت ارزان در شماری از شهرها از جمله کابل آغاز کرده است. طوری که از یک طرف در زمستان سرد با مردم کمک شود و از سوی دیگر به دلیل افزایش عرضه زغال ســنگ بیشــتر در بازار قیمت آن کاهش یابد. ریاست شرکت های امارتی می گوید که این روند را در کابل به منظور توزیع زغال ســنگ به قیمت نازل برای مردم آغاز کرده اســت و مردم می توانند زغال ســنگ مورد نیاز خود را به قیمــت ارزان از مکان های تعیین شــده در بیست و دو ناحیه شــهر کابل بدست بیاورند. مولوی احمدجــان بلال رئیس عمومی شرکت های امارت می گوید کــه در هماهنگی با شرکت زغال سنگ شــمال در ۲۲ ناحیه شهر کابل به صورت منظم زغال ســنگ انتقال می یابد و باشــنده گان کابل می توانند به این مناطق مراجعه نموده و یک تُن زغال سنگ را بــه ۶۵۰۰ افغانی خریداری کنــد. به همین ترتیب شاروالی کابل می گوید که این روند را با همکاری وکلای گذر نظارت می نماید و برای کسانی که به منظور خرید زغال سنگ به آنجا مراجعه می کنند، سهولت های لازم را فراهم کرده است. ریاست تنظیم مارکیت‌های شاروالی کابل می‌گوید که برای جلوگیری از احتکار و توزیع زغال ســنگ به قیمت بلند، میکانیزم مشخص ترتیب شده، قابل تطبیق اســت که از آن نظارت و بررســی دوامدار صورت می گیرد.باشــنده گان هــر ناحیه می توانند به آدرس مربوطه شان مراجعه نموده و زغال سنگ مورد نیاز شان را به قیمت نازل، نسبت به بازار بدست بیآورند. در همین حال روند توزیع زغال ســنگ با بهای نازل برای مردم در شــهر بامیان نیز آغاز شــده. به گفته مسوولان محلی بهای یک تُن زغال سنگ بدون خاک و جغل در این شهر مبلغ ٦ هزار و ۷۰۰ افغانی تعیین شده است. بر اســاس تلاش رهبری اداره محلی بامیان، این زغال سنگ از ســوی اداره زون شمال تصدی زغال سنگ، از معادن دره صوف سمنگان برای مردم بامیان به مرکز این ولایت انتقال داده شــده اســت. به گفته والی بامیان، رهبری ادارۀ محلــی بامیان در هماهنگی با ریاســت عمومی تصدی زغال سنگ، بهای زغال سنگ را در این ولایت تعیین کرده و اداره زون شمال این تصدی مؤظف اســت که ٦ هزار تُن زغال سنگ را از معادن دره صوف ســمنگان به مردم بامیان فراهم کنــد. همچنان والی بامیان به مــردم این ولایت اطمینان داد که رهبری این ولایت در تلاش اســت که زغال سنگ مورد نیاز مردم در ولســوالی های یکاولنگ نمبر۲، کهمرد و ســیغان را از معادن زغال سنگ؛ یکاولنگ، تاله و برفک و سیغان، با بهای نازل به باشنده گان این ولسوالی‌ها نیز فراهم کند.

## رفع محدودیت ده روزه بر انتقال چوب سوخت

همه ساله با فرا رسیدن فصل زمستان بهای مواد سوختی در کشــور به ویژه بهای چوب که در بســیاری از ولایات کشور برای گرم کردن خانه ها استفاده می شود افزایش می یابد. هرچند که قطع جنگلات طبیعی در تمام کشور از سوی امارت اسلامی ممنوع شــده، اما از آنجایی که امســال قیمت چوب بلند رفته و مردم خواستار کاهش قیمت آن شده‌اند، از سوی امارت اسلامی به صورت

موقتی این ممنوعیت برداشته شده است. چوب خشک ولایت پکتیا نیز در این روند شامل و انتقال آن برای فروش به بازار است، اما اکنون این ممنوعیت برای مدت کوتاه برداشته شده است. مسوولان امارتی در این ولایت می گویند که به دلیل افزایش بی‌سابقه قیمت چوب، این ممنوعیت برای ۱۰ روز در برخی از ولایت‌ها برداشته شده و تاجران می‌توانند چوب‌های موجود در این ولایت را به دیگر ولایت‌ها و بازارها انتقال دهند. نورالله ممتاز رئیس دفتر مقام ولایت پکتیا گفته، چوب‌هایی که ثبت شده بودند و در اده‌ها مانده بودند، پس از مدت زیادی که مردم منتظر بودند، توسط کمیته‌ای از سوی ولایت، ثبت شدند و به مردم اجازه داده شد تا آن را به ولایات دیگر انتقال دهند. اتحادیه چوب‌فروشان در ولایت پکتیا این را یک اقدام نیک دانسته و گفته این اقدام باعث کاهش قیمت چوب در بازار می‌شود و سهولت زیادی را برای مردم به همراه دارد. در همین حال در ولایت لوگر نیز همین گونه اقدام شده است. مسوولان محلی به باشنده گان ولسوالی ازره این ولایت اجازه داده تا به مقدار ۱۱ هزار خروار چوب سوخت را به مرکز این ولایت انتقال دهند. آمر منابع طبیعی ریاست زراعت، آبیاری و مالداری این ولایت میگوید، غرض این مسله به ولسوالی ازره این ولایت یک هیئت سفر کرد تا تحت نظارت آن بر اساس خواست باشنده گان این ولسوالی اجازه داده شود که چوب سوخت را به شهر پل علم مرکز ولایت انتقال داده و به فروش برساند. به گفته مسوولان محلی از مردم تضمین گرفته شده که جنگل را قطع نه کنند و اگر کسی از این کار سرپیچی نماید به برخورد قانونی رو برو می‌شوند. باشنده گان شهر پل علم می گویند با عرضه شدن این چوب به بازار قیمت های چوب کاهش خواهد یافت. در برخی ولایات دیگر نیز اینگونه اقدام صورت گرفته و به قیمت نازل برای مردم چوب سوخت آماده شده است.

## نتیجه‌گیری

با فرا رسیدن زمستان، نیازمندی به مواد سوخت در کشور افزایش می‌یابد که به علت آن قیمت این محصولات در بازارها نیز بلند می رود. در آغاز زمستان که هوا در بسیاری از ولایات سرد شده، تقاضا برای مواد سوخت افزایش یافته و قیمت ها نیز بلند رفته، باشنده‌گان مناطق سردسیر و به‌ویژه باشنده‌گان کابل خواستار کنترول و پایین آوردن قیمت مواد سوخت از سوی حکومت بودند. امارت اسلامی با درنظرداشت تقاضای مردم زغال سنگ را به قیمت نازل در ۲۲ ناحیه کابل و در مراکز شماری از ولایات دیگر تهیه و عرضه نموده است، تا مردم بتواند به قیمت کم زغال سنگ مورد نیاز خود را بدست آورند. امارت اسلامی همچنان به علت افزایش بی‌پیشینه بهای چوب در برخی از ولایات کشور، محدودیت انتقال چوب پکتیا به ولایت‌های دیگر به مدت ده روز برداشته شده است. با این اقدام حال در بازارها قیمت چوب سوخت کاهش یافته است. این درحالی است که با نزدیک شدن زمستان و افزایش سرما، بسیاری از باشنده گان کشور برای گرم‌کردن خانه‌های شان در کنار زغال سنگ و گاز از چوب نیز استفاده می کنند.

# د کورنیو تولیداتو د ملاتړ په پار
## د اسلامي امارت هڅو ته کتنه

**لیکوال:** امان الله حنیفي

په دې لیکنه کې د کورنیو تولیداتو د ملاتړ په پار د اسلامي امارت ترسره شوو هڅو او پر ملي اقتصاد یې اغېزو ته لنډه کتنه کوو.



## سریزه

کورني تولیدات د هغو کرنیزو، صنعتي او خدماتي تولیداتو مجموعه ده چې ټول د یو هېواد په د ننه کې تولید او ترسره کېږي. د یادو تولیداتو د تولید او خلکو ته د وړاندې کولو پر مهال تر ډېره پورې د هېواد له طبیعي سرچینو، ټکنالوژۍ، ماشین الاتو، کاري ځواک، د خدماتو د وړاندې کولو له وسایلو او یوشمېر نورو امکاناتو څخه استفاده کېږي. هر څومره چې د یو هېواد د کورنیو تولیداتو کیفیت لوړ، کمیت یې له اړتیا سره سم یا تر هغه زیات او د خدماتو وړاندې کولو لارې چارې یې معیاري، خوندي او اسانه وي، په هماغه اندازه ورسره د هېواد اقتصاد پیاوړی کېږي.

د کورنیو تولیداتو اقتصادي او ټولنیز ارزښت ډېر مهم دی، ځکه چې دا د هر هیواد د اقتصاد او ټولنیزې هوساینې په جوړولو کې بنسټیز رول لري. د کورنیو تولیداتو زیاتوالی نه یوازې د هېواد د اقتصادي ودې لامل کېږي، بلکې د ټولنې په پرمختګ کې هم مهمه ونډه لري.

د کورنیو تولیداتو د تقویې او ودې لپاره د نورو فکټورونو ترڅنګ د دولت ملاتړ او هغوی ته د لازمو اسانتیاوو برابرول خورا اړین دي، چې له نېکه‌مرغه د اسلامي امارت په راتګ سره په افغانستان کې د دغه سکټور د ملاتړ په موخه اساسي ګامونه اخیستل شوي دي.

موږ د کورنیو تولیداتو د ملاتړ په پار د اسلامي امارت ترسره شوو هڅو او پر ملي اقتصاد یې اغېزو ته لنډه کتنه کوو.

## د کورنیو تولیداتو اقتصادي ارزښت

کورني تولیدات د یو هېواد د ملي اقتصاد په پیاوړتیا کې ډېر مهم رول لري چې په تدریجي ډول یو هېواد پر ځان بسیا کېدو ته رسوي. کورني تولیدات په کور دننه له موجودو طبیعي سرچینو د خلکو اړتیاوې په ارزانه بیه پوره کوي او په بدل کې یې د قیمتي وارداتو مخنیوی کوي. کله چې یو هیواد د خپلې اړتیا وړ توکي په کور دننه تولید کړي، بیا یې له بهرنیو هېوادونو څخه د وارداتو اړتیا کمېږي، چې په دې سره د هیواد د مالي وضعیت او بیلابیلو صنعتي سکټورونو پیاوړتیا ترلاسه کېږي. کورني تولیدات له بهرنیو وارداتو سره سیالي کوي او د هیواد د تولیداتو سکټور ته وده ورکوي چې په دې سره د هېواد په سوداګرۍ کې متوازن بیلانس رامنځته کېږي.

د کورنیو تولیداتو زیاتوالی د نویو فابریکو د رامنځته کېدو





سبب کېږي، د هېواد صنعتي څرخ په حرکت راولي، هېواد ته د تخنیک او ټکنالوژۍ د انتقال زمینه برابروي او د اوږدمهال لپاره مسلکي بشري ځواک روزي چې د یو هېواد د ملي اقتصاد اساسي ستنه بلل کېږي. د کورنیو تولیداتو د زیاتېدو په صورت کې د تولیدوونکو او مصرف کوونکو ترمنځ مستقیمه اړیکه جوړېږي، دا نوي کاري فرصتونه رامنځته کوي او په مجموع کې د یو هېواد کورنی اقتصادي سیستم پیاوړی کوي.

د کورنیو تولیداتو د پیاوړتیا په صورت کې د خوراکي توکو، روغتیایي خدماتو او مختلفو برخو کې د توکو د کیفیت تضمین کېږي او همدا تضمین د یو هېواد د روغتیایي



سکټور، چاپېریال ساتنې او زېربنا په جوړ ساتلو کې مهم رول لوبوي. د کورنیو تولیداتو زیاتوالی د ټولنیز، کلتوري او علمي پرمختګ لپاره زمینه برابروي. کله چې د تولیداتو کچه لوړېږي، د خلکو ژوند ورسره ښه کیږي، د کلتوري او علمي بنسټونو پراختیا ته وده ورکوي، چې په پایله کې د ټولنې علمي او فرهنګي پرمختګ ته لاره پرانیزي.

د کورنیو تولیداتو پراختیا د ټولنیزو ستونزو لکه بې کارۍ، فقر، بې سوادۍ او بې عدالتۍ په حل کې مرسته کوي. دا ډول ټولنیزې ستونزې د زیات تولید، د عایداتو لوړېدو او د تولیدي فابریکو د زیاتوالي له لارې په تدریجي ډول حل کېدای شي. د کورنیو تولیداتو زیاتوالی په ټولنه کې د ګډ کار کولو کلتور ته وده ورکوي. کله چې افراد او ټولنې د تولیداتو د زیاتوالي په موخه ګډ کار وکړي دا به په خلکو کې د ټولنیزې همکارۍ، اتحاد او د ګډو موخو ترلاسه کولو روحیه پیاوړې کړي.

د کورنیو تولیداتو زیاتوالی د مالي پیاوړتیا لامل کیږي، ځکه چې دولت کولی شي د تولیداتو پر اساس زیات مالیات راټول کړي. په دې سره د دولتي عوایدو کچه لوړېږي، چې په نتیجه کې حکومتونه کولی شي په مختلفو سکټورونو کې زېربنایي پروژې پیل کړي. د کورنیو تولیداتو د پیاوړتیا په صورت کې په هېواد کې د لا زیاتې کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د جذب زمینه برابرېږي او په زیاته کچه پانګونه د هېواد له ملي اقتصاد سره د پام وړ مرسته کولی شي.

د کورنیو تولیداتو له پراختیا سره د صادراتو حجم هم لوړېږي. صادرات د هیواد لپاره یوه ثابته عایداتي سرچینه جوړېږي، چې په دې سره له نړیوالو سوداګریزو بازارونو سره د راکړې ورکړې اړیکې پراخې او پیاوړې کېږي.

## د کورنیو تولیداتو ډولونه

کورني تولیدات په مختلفو برخو کې تولیدېږي او مختلف ډولونه لري چې په عمومي ډول په درېیو برخو ویشل کېږي:

### ۱ـ کرنیز تولیدات

کرنیز تولیدات د خلکو د خوراکي اړتیاوو په پوره کولو کې اساسي رول لري او له کرنیزو یا زراعتي لارو چارو ترلاسه کېږي. حبوبات، میوې او سبزیجات د کرنیزو محصولاتو ښې بېلگې دي.

### ۲ـ صنعتي تولیدات

دا هغه تولیدات دي چې د صنعتي پروسو په واسطه تولیدېږي او د ورځنیو چارو په اسانه، کم لگښته او لږ وخت کې یې د ترسره کولو په برخه کې ډېره مرسته کوي. تخنیکي ماشین الات او وسایل لکه موټر، ټلویزیون، کمپیوټر، د خوراکي توکو بسته بندي، فابریکې او بېلابېل صنعتونه یې ښې بېلگې دي. صنعتي تولیدات د اقتصاد په پیاوړتیا کې کلیدي رول لري او د هیواد د صادراتو مهمه برخه جوړوي.

### ۳ـ د خدمتونو تولیدات

خدمات د هغه ډول تولیداتو برخه گڼل کېږي چې مادي بڼه نه لري، بلکې د یوه شخص یا سازمان لخوا بل شخص یا سازمان ته وړاندیز کېږي، لکه روغتیایي، تعلیمي، مشورتي، ترانسپورټي او سیاحتي خدمتونه. د خدمتونو تولیدات په یوه هیواد کې د اقتصادي فعالیتونو یوه مهمه برخه جوړوي او د خلکو د ژوند کیفیت ته وده ورکوي.








## د کورنیو تولیداتو د ملاتړ په موخه د اسلامي امارت ترسره شوې هڅې

د اسلامي امارت په راتګ سره د کورنیو تولیداتو د ملاتړ په موخه مؤثرې هڅې ترسره شوې دي. اسلامي امارت د کورنیـــو تولیداتو پر صادراتو تعرفه له منځه وړې او یا یې هم ډېرې ټیټې کچې ته را رســولې ده. په کور دننه په ځانګـــړې ډول ټولو امارتي ادارو او پـــه دوهم قدم کې هېوادوالو ته سپارښتنه شـــوې چې د خپلو اړتیاوو پوره کولو پر مهال له کورنیو تولیداتو استفاده وکړي، که څه هـــم کیفیت یې د بهرنیو توکو پـــه پرتله یوڅه ټیټ وي.

اسلامي امارت د کورنیو تولیداتو د ملاتړ په موخه پر هغو وارداتي اقلامو ګمرکي تعرفې لوړې کړې دي، چې هغه په کور دننه تولیدېږي او د خلکو اړتیاوې پوره کولی شي.

اســـلامي امارت د کورنیو تولیداتو د ملاتړ په موخه ټولو صنعتي فابریکو تـــه د نورو هېوادوالو په نســـبت زیاته برېښنا ورکړې ده، د جوازونو د ورکړې او تمدید پروسه یې اسانه او شـــفافه کړې، د هغوی د اړتیا وړ پر خامو موادو یې تعرفه راکمه کړې، د هغوی د سر او پانګې امنیت یې خوندي کړی دی، هغوی ته یې د پانګونې تر ټولو اسانه شرایـــط او قوانین وضعه کړي دي او په ټولو ولایتونو کې یې په صنعتي پارکونو کې د هغوی له غوښتنې سره سم مناسبې ځمکې او نور اړین سهولتونه ورکړي.

د اسلامي امارت په راتګ سره خصوصي سکټور له کورنیو سرچینو د تولیداتو په موخه په سلګونو میلیارده افغانۍ پانګونه کړې چې ښـــه بېلګه یې د ســـیمنټو د تولید په برخه کې د ۴۳ میلیاردو افغانیو په ارزښـــت د کورنیو او بهرنیو شرکتونو پانګونه ده.

اســـلامي امارت د کورنیو تولیداتو د معیاري کولو اړوند پروګرامونو د مالي ملاتړ، د ملي او نړیوالو نندراتونونو په جوړولـــو کې د همـــکارۍ، د صادراتو لپـــاره د ځانګړو مرکزونـــو جوړولو، د خصوصي ســـکټور د ملي او مؤثرو پروګرامونو د پلي کولو او د خصوصي سکټور د نورو برخو د مالي ملاتړ په موخه له خصوصي سکټور څخه د ملاتړ صندوق پرانیستی، چې په مختلفو برخو کې ښې لاسته راوړنې لري.

همدا راز اســـلامي امارت د کورنیـــو تولیداتو د ملاتړ په موخه ټولو صنعت کارانو، اصنافو او کســـبګرو ته ثابتې مالیې معاف کړې او همداراز یې په دغه برخه کې د پام وړ تخفیفونـــه ورکړي دي. اســـلامي امـــارت د کورنیو تولیداتو د ملاتړ په موخه ډېری هغه دولتي شرکتونه بېرته فعال کړي چې تېرې دوه لسیزې بې کاره او کنډواله پاتې وو. د یادو شرکتونو ښې بېلګې د کندوز سپین زر دولتي شرکت، د جبل السراج سیمنټو فابریکه، مرکزي سیلو، د ملي بس شرکت او... دي. دغه شرکتونه اوســـمهال په لســـګونو برخو کـــې تولیدات او هېوادوالـــو ته خدمات وړاندې کوي چې شـــاوخوا ۵۰ زره کسانو ته پکې کاري فرصتونه برابر شوي.

له دې ورهاخوا یې د ســـلګونو شـــخصي فابریکو په بیا فعالولو کې هم مهمه ونډه اخیســـتې ده. هغوی ته یې د عامه خصوصي مشـــارکت مالي ماډل له لارې د اړتیا وړ پانګه ورکړې او یاد شرکتونه یې په پښو درولي. د دې کار ښه بېلګه د کابل په پلچرخي صنعتي پارک کې د بخت کمپل جوړولو فابریکه ده چې اســـلامي امارت د ســـل میلیونو افغانیو په ارزښت تخنیکي ماشینونه ورته اخیستي دي، څو پر یاده فابریکه د پانګې فشار راکم شي.

اسلامي امارت د کورنیو تولیداتو د ملاتړ په موخه بهر ته د کورنیو مازادو تولیداتو د صادرولو لپاره د پام وړ اسانتیاوې رامنځتــه کړې دي. له ټولو نړیوالو معیارونو سره ســم د کابل په گډون د هېواد په شپږو ولایتونو کې د صادراتو د پروسس زونونه جوړېږي، چې له نېکه‌مرغه په بلخ ولایت کې یاد مرکز جوړ او څه موده وړاندې گټې اخیستنې ته وسپارل شو. اوسمهال د هېواد له ۱۳ ولایتونو څخه نړۍ ته صادراتي توکې لېږدول کېــږي، چې په یادو ولایتونو کې د صادراتو د تســهیل او تسریع لپــاره د صادراتي اسنادو د پروسس ځانگړي دفترونه هم رامنځته شوي.

په اوسني وخت کې افغانستان په ۲۴ سکټورونو کې ۸۰ هېوادونو ته صــادرات لري چې د صادراتو اکثریت برخه یې کورني تولیدات دي. افغانستان اوسمهال په څو برخو کې ځان بسیا کېدو ته نږدې دی او په خوراکي توکو کې تر یوه حده خپلې داخلي اړتیاوې پوره کولی شي.

اسلامي امارت د هېواد د صادراتي توکو لپاره د سیمې او نړۍ په هېوادونو کې د بالقوه او بدیلو بازارونو د پیدا کولو لپاره اســاسي هڅې کړې دي، په دې برخه کې یې له یــادو هېوادونو څخه د ترجیحي تعرفو اړوند غوښــتنې کړې، چې له نېکه‌مرغه ښــه پایله یې ورکړې ده. د دې کار ښــه بېلگه د ازبېکســتان له لارې د منځنۍ اسیا هېوادونو ته د افغانستان د وچو او تازه میوو ترانزیټ دی چې ازبیک لوری ترې تعرفه نه اخلي.

دې ته ورته اســلامي امارت د کورنیو تولیداتو د ملاتړ په موخه ډېــرې نورې هڅې هم پیل کړې دي، چې د ټولو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.



## پر ملـي اقتصـاد د کورنيو توليـداتو د ملاتــړ اغېــزې

پورته موږ د بېلګې پــه ډول هغو هڅو ته کتنه وکړه چې اســلامي امارت د کورنيو توليداتو د ملاتړ په موخه پيل کړې دي. د دې هڅو پــه پايله کې د تېرو دوو کلونو پر مهال د افغانستان کورني ناخالص توليد ۲،۷ سلنه وده کـړې، چې له امله يې هېوادوالــو په مختلفو برخو کې خپلې اړتياوې په اسانه ډول پوره کړې دي، خدمتونه په ښه ډول ورته رسېدلي، په سلګونو زره نوي کاري فرصتونه رامنځته شوي، په سلګونو ميليارده افغانۍ پانګونه جذب شوې، لويې او ملي زېربنايي پروژې پيل شوې او په ټوله کې د هېوادوالو د ژوند کچه ښه شوې ده.

## پـا يلــه

د کورنيو توليداتــو زياتوالی د يوه هيـــواد د اقتصادي پرمختګ او خپلواکۍ لپاره بنسټيز اهميت لري. همدې اهميت ته په کتو اسلامي امارت ټولې هغه لارې چارې عملي کـــړې دي چې د کورنيو توليداتو له ملاتړ او ودې سره مرسته کولی شي. د همدې ملاتړ په پايله کې د تېرو دوو کلونو پر مهــال د هېواد کورني ناخالص توليد ۲،۷ سلنه وده کړې او نړيوال بانک اعتراف کړی چې يادې ودې تر يوې اندازې د افغانســـتان له ملي اقتصاد سره مرسته کړې ده.

د کورنيو توليداتو د ملاتړ په پايله کې د صنعت په برخه کې په سلګونو ميليارده افغانۍ پانګونه جذب شوې، په سلګونو زره نوي کاري فرصتونه رامنځته شوي، په ارزانه بيه خلکو خپلې اړتياوې پوره کړې، په ښه ډول خدمات ورته وړاندې شوي او په ټوله کې د هېوادوالو د ژوند کچه ورسره ښه شوې ده.



## Future of the Energy Sector

The future of Afghanistan's energy sector hinges on current resources, policies, and regional cooperation. The energy sector plays a foundational role in Afghanistan's development, as electricity shortages and energy issues have direct impacts on industry, agriculture, and overall quality of life. The future direction of the energy sector may include several pathways:

### 1. Utilizing Natural Resources

Afghanistan has natural resources, such as gas and oil reserves, that, if efficiently harnessed, could fulfill energy needs.

### 2. Hydropower Projects

Afghanistan has abundant water resources and a high potential for hydropower. Currently, dams like Naghlu, Mahipar, and Sarubi exist, but new dams are needed to meet the electricity demands across different regions.

### 3. Solar and Wind Energy

Afghanistan is well-positioned globally to harness solar energy, especially in the southern provinces, where solar projects, like solar systems, are expanding. This sector could become a major energy source in the future. Wind energy production is also a promising option.

### 4. Encouraging Private Sector Involvement

Increased attention to the private sector in energy can create a conducive environment for investment, drawing both domestic and foreign investors.

### 5. Establishing Legal and Policy Stability

The energy sector requires long-term policies, investment support, and legal stability. This means that the Islamic Emirate should create sustainable, transparent laws to attract investors, new technology, and especially international aid.

By leveraging the above resources and opportunities, Afghanistan has the potential to reach a state of progress and self-sufficiency in its energy sector in the future.

## Conclusion

Afghanistan's energy sector faces fundamental challenges and limitations due to the past 20 years of occupation, including limited electricity production and heavy reliance on imported power. Afghanistan imports around 70% of its electricity from neighboring countries, particularly Uzbekistan, Tajikistan, Turkmenistan, and Iran. Its domestic production primarily depends on hydropower, but the lack of essential infrastructure and seasonal changes also affect water-based electricity generation. Afghanistan's geography offers significant potential for solar and wind energy, which could become valuable resources for energy production. Although some progress has been made, substantial investment and improved management are needed to implement effective projects in this area. The Islamic Emirate is actively working to strengthen the energy sector. In the long term, Afghanistan must develop its solar, wind, and hydropower resources and introduce new technology to increase reliance on domestic energy sources.

## Challenges Facing the Energy Sector

Numerous challenges impede the development of Afghanistan's energy sector. Here are some primary issues:

### 1.Financial Constraints and Budget

Due to the past 20 years of occupation, Afghanistan's economy is still not fully stabilized and lacks sufficient financial resources for energy projects. Relying on the private sector and external funding often causes delays in project implementation.



### 2. Technical Expertise and Capacity

Afghanistan faces a shortage of skilled and trained professionals, which creates difficulties in efficiently executing energy projects. The lack of technology and technical experience often necessitates assistance from foreign experts and countries for certain projects.

### 3. Logistics and Infrastructure

Afghanistan's infrastructure is limited and outdated, leading to challenges within the energy network and electricity transmission. The absence of a developed energy network, limited sources for power generation, and weaknesses in the existing network leave some areas without electricity.

### 4. Legal and Administrative Barriers

The lack of clear laws and policies in the energy sector poses a significant hurdle for investors.

### 5. Dependence on Imported Electricity from Neighboring Countries

Afghanistan is highly dependent on imported electricity from neighboring countries, which makes the power supply vulnerable to regional political and economic fluctuations.

Despite these challenges, Afghanistan has potential in solar energy, hydropower, and wind energy. If these issues are addressed with careful planning, Afghanistan can continue advancing its energy sector.

Afghanistan's energy infrastructure has faced numerous challenges and issues due to the past 20 years of occupation. These infrastructures have often been damaged by wars, mismanagement, and limited resources, with minimal progress achieved in recent years. In the electricity sector, Afghanistan largely depends on imports from neighboring countries such as Uzbekistan, Tajikistan, Turkmenistan, and Iran. Although Afghanistan has significant potential for electricity production through its vast water resources and rivers, the lack of investment and professional expertise has been a major obstacle to the development of these resources. Since the establishment of the Islamic Emirate, efforts have been directed toward accelerating foundational work in this area. Some important energy sources are as follows:

## 1.Water Resources

Afghanistan is home to several major rivers with substantial potential for electricity production, such as:

- •Kabul River: Located near the central regions of the country, it holds considerable potential for electricity generation.
- •Helmand River: Situated near the southern regions of Afghanistan, it is also crucial for agriculture.

## 2.Solar Energy

Afghanistan enjoys around 300 sunny days annually, making it an excellent source for solar energy. Although some solar projects have been initiated in specific areas, further financial and technical support is still required for its broader development.

## 3.Wind Energy

Western and other regions of Afghanistan offer suitable conditions for wind energy, particularly in Herat province. Some small wind energy projects have already begun, and in the near future, larger projects are expected in this area.

## 4.Gas and Oil Resources

Afghanistan has gas and oil resources that can contribute to energy production. Oil and gas reserves have recently been discovered in the Amu River region, yet further investment is needed to develop these projects.



## Introduction

The energy sector has played a fundamental role in advancing human life. Humanity's use of energy sources began with the discovery of fire, which later expanded with the development of oil, gas, and electricity technologies. The energy industry is divided into various segments, with the major ones being biomass, solar, hydro, wind, gas, and oil energy. With the start of the Industrial Revolution, humans began using fossil fuels like coal and oil extensively. In the 19th century, energy production from these sources was crucial for modern technology's development. However, due to recent environmental changes and the limited availability of fossil fuels, attention has increasingly turned to alternative and clean energy sources like solar and wind power.

Today, the global energy sector is undergoing a transformation, with various countries striving to use sustainable energy sources to protect the environment and provide clean, stable energy for future generations. Afghanistan's energy sector also has a long history, but its progress has been hindered by various factors. Producing energy and meeting electricity needs are high priorities for Islamic Emirate, yet the lack of advanced infrastructure has slowed rapid progress.

## Primary Energy Sources and Development in the Energy Sector

Afghanistan has diverse energy sources, which are used to produce electricity and meet the people's needs. The primary sources include:

**1.Hydropower:** Afghanistan has abundant water resources and rivers, such as the Kabul, Kunar, Helmand, and Amu Rivers, which can be used for electricity generation. Although infrastructure limitations in the water sector are a major obstacle, efforts are ongoing for its development.

**2. Solar Energy**: Afghanistan is well-suited for solar energy production, with sunny weather prevailing on most days of the year. This provides a strong opportunity to generate electricity through solar panels. Some small projects and private investments are ongoing in this area, but extensive development is still needed.

**3. Wind Energy**: Wind energy is also feasible in mountainous and windy areas like Herat and Kandahar. While some projects have been initiated, further financial support and technical capacity are needed for significant expansion.

**4. Fossil Fuels (Gas and Oil):** Afghanistan also has reserves of natural gas and oil that partially meet its energy needs. Some gas fields in the north have begun extraction, but further investment and infrastructure are required in this sector.

**5. Increasing and Alternative Energy:** Afghanistan also needs resources like biomass and other alternative energy sources. In rural areas, people use wood, coal, and other biomass fuels, but this method harms the environment. The Islamic Emirate is in search of alternative sources.

# THE ENERGY SECTOR:
## INFRASTRUCTURE, CHALLENGES, AND A QUICK LOOK AT THE FUTURE

**This article reviews Afghanistan's energy sector, focusing on key sources like hydropower, solar, and wind, while addressing challenges and future opportunities for sustainable development.**



opportunities, reduce poverty and unemployment, address social challenges, decrease dependence on foreign imports, curb the outflow of foreign currency, and ultimately foster economic growth and development.

Praise be to Allah, you are all witnesses to the reality that peace prevails in our homeland, administrative corruption has been significantly reduced, and a favorable environment exists for large-scale, medium, and small-scale investments. As always, I call upon all honorable traders and investors of the country to invest in our beloved homeland. This will not only enable you to engage in lawful and profitable business ventures but also make a meaningful contribution to the economic development of our country.

In conclusion, I extend my gratitude to the management of this factory for making this vital investment in the country. I urge them to fulfill their national responsibilities by ensuring the production of high-quality goods that meet accepted standards. By doing so, they will cater to domestic demand and create opportunities for exporting surplus products to foreign markets.

On behalf of the Islamic Emirate of Afghanistan, I reassure the management of this factory and all other investors that the Islamic Emirate will provide any necessary cooperation when needed, Insha'Allah.

Thank you for your attention.

Peace, mercy, and blessings of Allah be upon you all.



# SPEECH

## BY THE DEPUTY PRIME MINISTER FOR ECONOMIC AFFAIRS

### AT THE INAUGURATION CEREMONY OF BAKHT BLANKET MANUFACTURING FACTORY

In the name of Allah, the Most Gracious, the Most Merciful.

Respected officials of the Islamic Emirate, mujahideen, esteemed elders, representatives of the media, and honorable guests:

Peace, mercy, and blessings of Allah be upon you all!

I hope you are all well. It gives me immense pleasure to participate today in the inauguration of a significant blanket manufacturing factory, which marks a vital step toward developing domestic production and industry in Afghanistan. This initiative reduces our country's reliance on foreign imports and strengthens the national industrial sector.

First and foremost, I extend my heartfelt congratulations to the factory's management and my fellow citizens on the commencement of operations at this important manufacturing facility.

This blanket production factory represents an investment of 930 million Afghanis, with an initial daily production capacity of 1,000 units and direct employment opportunities for approximately 900 individuals.

To support domestic industries, this factory has received essential machinery worth 100 million Afghanis through a Murabaha Islamic financing contract facilitated by the Agricultural Development Fund (ADF) of Afghanistan. This financial assistance aims to alleviate the financial burden of investment costs.

What is particularly noteworthy is that this factory utilizes locally sourced raw materials, including wool and cotton. This will significantly contribute to the development of the livestock and agricultural sectors, indirectly creating further employment opportunities.

Implementing effective import substitution policies, supporting domestic industries, and promoting their growth are critical measures for strengthening the national economy and achieving economic independence. When investment levels rise in the country, they simultaneously generate employment

> Implementing effective import substitution policies, supporting domestic industries, and promoting their growth are critical measures for strengthening the national economy and achieving economic independence.

| | |
|---|---|
| **Publisher:** | Deputy PM for Economic Affairs Office |
| **Editorial Board:** | Maulvi Abdullah Azzam, Maulvi Zabehullah Nasir, Amanullah Hanifi and Fazal Wali Shirani |
| **Chief Editor:** | Maulvi Khaliq Dad Taqi |
| **Deputy Chief Editor:** | Ahmad Shah Rashed |
| **English Translator:** | Sajad Ahmad K. |
| **Graphic Designer:** | Ataurahman Saeid |
| **Photojornalist:** | Massihullah Attaie |
| **Printing Press:** | Baheer Printing Press |

Marmarin Palace, Malik Asghar Square, Kabul

0202107500

media@dpmea.gov.af

dpmea.gov.af

**Please provide proper attribution when using content from this magazine.**